
IslamHouse.com

Osoul Center



# محمدي لمونځ

## واجبات او ارکان.. کیفیت او اداء

لیکنه

عبیدالرحمن بصیرزئی

Pashto

پښتو

# صلاة النبي

تألیف

**عبیدالرحمن بصیرزئی**

PASHTO
پښتو

Osoul Center
www.osoulcenter.com

أُعد هذا الكتاب وصمّم من قبل مركز أصول، وجميع الصور المستخدمة في التصميم يملك المركز حقوقها، وإن مركز أصول يتيح لكل مسلم طباعة الكتاب ونشره بأي وسيلة، بشرط الالتزام بالإشارة إلى المصدر، وعدم التغيير في النص، وفي حالة الطباعة يوصي المركز بالالتزام بمعاييره في جودة الطباعة.

+966 504 442 532

+966 11 445 4900

+966 11 497 0126

P.O.BOX 29465 Riyadh 11457

osoul@rabwah.com

www.osoulcenter.com

بسم الله الرحمن الرحيم



# لړلیک


| | |
|---|---|
| پیلیزه | ۷ |
| د لمونځ شرطونه | ۹ |
| د لمونځ د رکعتونو شمیر | ۱۱ |
| د لمونځ ارکان او فرضونه | ۱۸ |
| د لمونځ د ارکانو حکم | ۱۹ |
| د لمونځ واجبات | ۱۹ |
| د واجباتو د پرېښودو حکم | ۲۰ |
| د تکبیر پرمهال د ګوتوخورول | ۲۱ |
| د لمونځ د شروع دعا | ۲۲ |
| دریم رکن: د سورت فاتحې لوستل | ۲۵ |
| امین په لوړ اواز ویل | ۲٦ |
| د سورت فاتحې سره بل سورت لوستل | ۲۸ |
| رکوع ته د تللوپه وخت کې لاسونه اوچتول | ۳۱ |
| څلورم رکن: درکوع کول | ۳۱ |
| لاسونه په زنګونانوکېښودل او خپلې ګوتې شا ته نه اړول | ۳۲ |
| په زنګونانو د لاسونو کېښودلو طریقه | ۳۲ |
| خپل زنګونان کلک نیول او لاسونه ترینګلي کول او له خپل بدن څخه لرې ساتل | ۳۳ |
| په رکوع کې سر نیغ یا زوړند نه نیول او ملا سیده کول | ۳٤ |
| په رکوع کې دعاویل | ۳۵ |
| په رکوع او سجده کې لس څله دعا ویل سنت دي | ۳۸ |
| پنځم رکن: درکوع څخه پورته کېدل | ۳۸ |
| شپږم رکن: په اوو اندامونو سجده کول | ٤۰ |
| خپل لاسونه له بدن څخه لرې ساتل اوداوګو برابر کېښودل | ٤۱ |

| | |
|---|---|
| د ورغو ترمينځ سجده کول | ٤٢ |
| په سجده کې خپلې ګوتې يوځايې کول | ٤٣ |
| په سجده کې خپلې څنګلې له ځمکې څخه اوچتې ساتل | ٤٣ |
| سُټې ته نږدې ودرېدل | ٤٤ |
| په سجده کې د خپو د ګوتوسرونه قبلې طرف ته ماتول | ٤٤ |
| په سجده کې دا دعا ويل | ٤٥ |
| اووم رکن: د سجدې څخه پاڅېدل | ٤٧ |
| د اوچتيدلو (پاڅيدلو) په وخت کې (الله اکبر) ويل | ٤٨ |
| اتم رکن: د دوو سجدو په مينځ کې کېناستل | ٤٨ |
| د کېناستلو په وخت کې په مسواکې ګوتې اشاره کول | ٤٩ |
| د دواړو سجدو په منځ کې دعا ويل | ٥٠ |
| رکعت ته د پاڅيدو په وخت کې لږ کېناستل او بيا پاڅېدل | ٥١ |
| په مذکوره طريقه ټول لمونځ کول | ٥٢ |
| په دوهم رکعت کې د(استفتاح دعا) نه ويل | ٥٣ |
| د دوو سجدو په منځ کې د کېناستلو طريقه | ٥٣ |
| نهم رکن: د اخرني تشهد لپاره کېناستل | ٥٤ |
| لسم رکن: تشهد ويل | ٥٥ |
| دوهم رکعت ته د تشهد څخه وروسته پاڅېدل | ٥٧ |
| دريم د رکعت ته دپاڅيدوپه وخت کې لاسونه وچتول | ٥٧ |
| د ورستني تشهد د کېناستلو مسنونه طريقه | ٥٨ |
| يوولسم رکن: درود ويل په اخرني تشهد کې | ٥٨ |
| له درودوڅخه ورسته دعاګاني | ٥٩ |
| دوولسم رکن: د سلام اړول | ٦٢ |
| د سلام الفاظ لنډ ويل | ٦٤ |
| د سلام څخه ورسته دعاګانې | ٦٥ |

الحمد لله، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، وبعد:

لمونځ داسې عبادت دی چې خلک د فحاشۍ او له بدوکارونو او وېناکانوڅخه منع کوي لکه چې الله ﷻ فرمايي ﴿إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ تَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِۗ﴾ [العنكبوت: ٤٥].

ژباړه: يقينا لمونځ له بدو کارونه څخه منعه کوي.

نو ځکه الله ﷻ لمونځ داسلام دوهم رکن وګرځولو، لمونځ داسې عبادت دی چې په بدني عباداتو کې به يې له بنده مسلمان سره اول حساب کېدلی شي، د ابوهريرة رضي الله عنه رسول الله ﷺ فرمايي:

«**إِنَّ أَوَّلَ مَا يُحَاسَبُ بِهِ الْعَبْدُبِصَلَاتِهِ فَإِنْ صَلَحَتْ فَقَدْ أَفْلَحَ وَأَنْجَحَ وَإِنْ فَسَدَتْ فَقَدْ خَابَ وَخَسِرَ**».[(١)]

ژباړه: انسان سره به دقيامت په ورځ لومړی د لمونځ حساب کېږي، که يې لمونځ روغ جوړ و کامياب او بريالی به شي او که يې لمونځ ښه نه و نو ناکام او تاوان يې وکړ.

د الله ﷻ په وړاندې که انسان لمونځ کې کامياب شي نو الله ﷻ به يې په ټولو هغه سوالونو کې چې ورڅخه کېږي کامياب کړي او که څوک لمونځ کې ناکام شي نو هغه به د الله ﷻ په وړاندې په ټولو اعمالو کې چې ورڅخه تپوس کېږي ناکام وي.

(١) سنن الترمذي: (٢ / ٢٦٩).

لمونځ په اسلام کې داسې فریضه ده چې الله ﷻ په جماعت سره فرض کړې ده، الله ﷻ وايي ﴿وَٱرۡكَعُواْ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ﴾ [البقرة: ٤٣].

ژباړه: تاسو رکوع (لمونځ) وکړئ د رکوع کوونکو سره.

هغه لمونځ د نجات او کامیابۍ ذریعه ده چې د رسول الله ﷺ په طریقه تر سره شي او که داسې نه وي نو لمونځ دغه انسان ته ګټور نه بلکې عذاب ګرځي او ښيرې ورته کوي چې الله ﷻ دې داسې تباه کړه لکه زه چې دې تباه کړم.

په دې اساس لازمه مې وګڼله چې د حدیثونو په رڼا کې د پیغمبر ﷺ لمونځ د خلکو مخې ته کېږدم ترڅو په اسانه وکولی شي خپل لمونځ په هغې طریقې سر ته ورسوي کومه چې الله ﷻ پیغمبر ﷺ ته ښولې او پیغمبر ﷺ مونږ ته ښولې ده.

نو مونږ ته پکار دي چې دغه طریقه خپله کړو ترڅو د صحیح لمونځ خاوندان شو.

او له محترمو ورونو څخه ډېره شکریه ادا کوم چې د کتاب په تصحیح کې یې راسره بې مثاله مرسته وکړه الله ﷻ دې په خپلو خاصو پېرزوینو باندې ونازوي.

له لوی الله ﷻ څخه سوال کوم چې دا وړه رساله زما د نېکو عملونو په تله کې حساب کړي، او الله ﷻ دې دا رساله د لیکوال، ژباړن، او د ګردو لوستوالو او د چاپ مرستندویانو ته په خیر سعادت تمامه کړي.

آمین یا رب العلمین

# دلمونځ شرطونه

د لمونځ نهه شرطونه دي:

١. اسلام.

٢. عقل.

٣. تمييز (چې ماشوم اووه کلنې ته ورسيږي)

٤. اودس کول.

٥. عورت پټول.

٦. له بدن څخه ګندګي لرې کول.

٧. د وخت داخلېدل.

٨. نيت کول.

٩. قبلې ته مخ ګرځول.

الله تعالی فرمايي ﴿إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ كَانَتۡ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ كِتَٰبًا مَّوۡقُوتًا﴾ [النساء: ١٠٣].

ژباړه: يقينا دالمونځ چې دي فرض کړي شوي دي په مومنانو باندې په معلومو وختونو کې.اوداوخت هم شرط دي لپاره دلمونځ.

## دلمونځ وختونه:

۱. د سهار لمونځ

لومړی وخت یې صبح صادق او وروستی وخت یې لمر راختل دي.

۲. ماسپښین لمونځ

د زوال له وخت نه شروع کیږي او اخري وخت یې دا دی چې د هر شي سیوری د هغه په اندازه شي.

۳. د مازدیګر لمونځ

لومړی وخت یې هغه دی چې د هرشي سیوری په خپله اندازه شي، او ورستی وخت یې د لمر زیړیدل دي.

٤. د ماښام لمونځ

د لمر له پرېوتو څخه شروع کیږي تر شفق (سورخي) ختو پورې.

٥. د ماسخوتن لمونځ

د شفق (سورخی) له ختو څخه وروسته شروع کیږي تر نیمایي شپې پورې.

# دفرض لمونځ درکعتونو شمير

**عَنْ قَيْسِ بْنِ عَمْرٍو ﵁ قَالَ: رَأَى النَّبِيُّ ﷺ رَجُلاً يُصَلِّي بَعْدَ صَلاَةِ الصُّبْحِ رَكْعَتَيْنِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «صَلاَةُ الصُّبْحِ رَكْعَتَانِ». فَقَالَ الرَّجُلُ: إِنِّي لَمْ أَكُنْ صَلَّيْتُ الرَّكْعَتَيْنِ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا، فَصَلَّيْتُهُمَا الآنَ فَسَكَتَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ.**[(١)]

ژباړه: قيس بن عمرو ﵁ وايي: چې نبي کريم ﷺ يو سړی وليد چې د سهار (فرض) لمونځ نه يې وروسته نور دوه رکعته لمونځ کو نو رسول الله ﷺ ورته وويل: د سهارلمونځ دوه رکعته دی، سړي وويل: ما ترې مخکې دوه رکعته لمونځ نه و کړی نو اوس مې هغه دوه رکعته وکړل، نو رسول الله ﷺ غلی شو (منع يې نه کړ).

**فايده:** په دې حديث کې مو زده کړل چې د سهار فرض لمونځ دوه رکعته دی او د حديث نه دا هم معلومه شوه چې د سهار سنت د سهار فرض لمونځ څخه ورسته هم کېږي.

**عَنْ عَائِشَةَ ﵂ قَالَتْ: كَانَ أَوَّلُ مَا افْتُرِضَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ ﷺ الصَّلاَةُ رَكْعَتَانِ رَكْعَتَانِ إِلَّا الْمَغْرِبَ فَإِنَّهَا كَانَتْ ثَلاَثًا ثُمَّ أَتَمَّ اللهُ الظُّهْرَ**

(١) سنن أبي داود: (١ / ٤٨٩)

**وَالْعَصْرَ و الْعِشَاءَ الآخِرَةَ أَرْبَعًا فِيْ الْحَضَرِ وَأُقَرَّ الصَّلَاةُ عَلَى فَرْضِهَا الْأَوَّلُ فِيْ السَفَرِ.**(١)

ژباړه: له عايشې رضي الله عنها نه روايت دی هغې ويلي دي: په نبي کريم ﷺ باندې له اول نه لمونځ دوه دوه رکعته فرض شوی و سوا د ماښام لمونځ نه چې درې رکعته و، بيا الله , په حضر کې د ماسپښين، مازديګر او ماسخوتن لمونځ څلور رکعته پوره کړ او په سفر کې يې فرض لمونځ د اول په څېر دوه رکعته پرېښود.

**فايده:** په دې حديث کې مود هغه لمونځونو رکعتونو شمېر زده کړ چې الله , په شپه او ورځ کې پر مسلمانانو فرض کړي دي.

**عَن ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنه قَالَ: صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ فِي الْحَضَرِ وَالسَّفَرِ فَصَلَّى الظُّهْرَ فِي الْحَضَرِ أَرْبَعًا وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ وَصَلَّى الْعَصْرَ أَرْبَعًا وَلَيْسَ بَعْدَهَا شَيْءٌ وَصَلَّى الْمَغْرِبَ ثَلَاثًا وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ وَصَلَّى الْعِشَاءَ أَرْبَعًا.**(٢)

ژباړه: عبدالله بن عمر رضي الله عنه وايي چې ما د نبي کريم ﷺ سره په حضر او سفر کې لمونځ کړي دي، په حضر کې يې د ماسپښين لمونځ څلور رکعته وکړ او وروسته يې ترې دوه رکعته لمونځ نور هم وکړ، د مازديګر لمونځ يې هم څلور رکعته وکړ او وروسته يې ترې هيڅ لمونځ ونه کړ، د ماښام يې درې رکعته لمونځ وکړ او وروسته يې

(١) مسند أحمد بن حنبل: (٦ / ٢٧٢)
(٢) مسند أحمد: (٩ / ٤٥٢)

ترې دوه رکعته وکړل او دماسخوتن یې څلور رکعته وکړل.

**فايده**: په دې حديث کې هم مونږ د فرض لمونځونو د رکعتونو شمېر ياد کړ.

**عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنه قَالَ: جَمَعَ رَسُولُ اللَّه ﷺ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ بِجَمْعٍ صَلَّى الْمَغْرِبَ ثَلَاثًا وَالْعِشَاءَ رَكْعَتَيْنِ بِإِقَامَةٍ وَاحِدَةٍ.**[١]

د ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې په سفر کې نبي کريم ﷺ ماښام او ماسخوتن لمونځونه سره یو ځای په جماعت ادا کړل، درې رکعته د ماښام او دوه د ماسخوتن، په داسې حالت کې چې د دواړو لمونځونه لپاره یې یو اقامت وکړ.

**لاندې ترتیب شوی جدول د تېرو حدیثونو په رڼاکې جوړ کړی شو:**

| فرض لمونځ | درکعتونوشمېر |
|---|---|
| سهار | دوه رکعته |
| ماسپخين | څلوررکعته |
| ماذیګر | څلوررکعته |
| ماښام | درې رکعته |
| ماسختن | څلوررکعته |

(١) صحيح مسلم: (٤ / ٧٥)

**۱. عَنْ مُعَاذ بْنِ جَبَلٍ ﵁ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «رأْسُ الأمْرِ الْإِسْلامُ، وَعُمُودُهُ الصَّلَاةُ».**[۱]

ژباړه: د معاذ بن جبل ﵁ نه روایت دی چې نبی کریم ﷺ ویلي دي: د ټولو دیني کارونو سر اسلام دی او ستن یې (د دین) لمونځ دی.

**فایده:** په دې حدیث کې مونږ زده کړل چې سر د ټولو نېکو کارونو د اسلام راوړل دي، نو چې چا اسلام نه وي راوړی د هغه سره هیڅ عمل د الله ﻷ په وړاندې قبول نه دی نو اسلام د نېکو اعمالو د قبلېدو لپاره شرط دی او د اسلام ټینګښت لمونځ دی نو چې لمونځ څوک نه کوي هغه مسلمان نه بلل کیږي، رسول الله ﷺ ویلي دي **«إِنَّ بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الشِّرْكِ وَالْكُفْرِ تَرْكَ الصَّلَاةِ».**[۲]

ژباړه: د انسان او شرک او کفر ترمنځ جداوالی د لمونځ نه کول دي.

همدارنګه په حدیث کې مونږ ته د لمونځ اولنی شرط هم ذکر شو چې اسلام دی، له دې نه بغیر لمونځ نه صحیح کیږي.

همدارنګه الله ﻷ له نیت نه بغیر یو عمل هم نه قبلوي نو د لمونځ لپاره نیت کول شرط دي، رسول الله ﷺ فرمایي: **«إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ».**[۳]

(۱) أخرجه: ابن ماجه (۳۹۷۳)، والترمذي (۲٦۱٦)
(۲) صحيح مسلم: (۸۲).
(۳) صحيح البخاري: (۱).

ژباړه: یقینا د ټولو اعمالو مدار په نیت پورې تړلی دی.

هېره دې نه وي دا د لمونځ لپاره اتم شرط دی.

۲. **عَنْ جَابِر رضي الله عنه قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَقُولُ: «إِنَّ بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الشِّرْكِ وَالْكُفْرِ تَرْكَ الصَّلَاةِ».**(١)

ژباړه: له جابر رضي الله عنه نه روایت څې چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي د انسان او شرک او کفر ترمنځ جداوالی د لمونځ نه کول دي.

**فایده:** په دې حدیث کې مونږ زده کړل چې که څوک لمونځ کوي نو هغه به مسلمان وي او چې څوک لمونځ نه کوي نو هغه به مشرک او کافر وي.

نوچې کوم لمونځ د پیغمبر ﷺ په طریقه نه وي هغه لمونځ د الله ﷻ په وړاندې قبول نه دی، دا داسې شو لکه چې له سره چا لمونځ نه وي کړی په دې سره سړی له دین څخه وځي.

۳. **عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ ذَكَرَ الصَّلَاةَ يَوْمًا فَقَالَ: «مَنْ حَافَظَ عَلَيْهَا كَانَتْ لَهُ نُورًا وَبُرْهَانًا وَنَجَاةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ لَمْ يُحَافِظْ عَلَيْهَا لَمْ تَكُنْ لَهُ نُورٌ وَلَا بُرْهَانٌ وَلَا نَجَاةٌ وَكَانَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَعَ قَارُونَ وَفِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَأُبَيِّ بْنِ خَلَفٍ».**(٢)

ژباړه: له عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول

(١) صحیح مسلم: (٨٢).
(٢) مسند أحمد: (١١ / ١٤١)

الله ﷺ یوه ورځ لمونځ یاد کړ او ویویل: که څوک په لمونځ حفاظت (همېشوالی) وکړي نو لمونځ به ورله رڼا، دلیل اود قیامت ویه روځ دخلاصون ذریعه شي، او که څوک پرې حفاظت ونه وکړي (خیال يې ونه ساتي) نو د قیامت په ورځ به ورله رڼا، دلیل او د خلاصون هیڅ ذریعه نه وي، او د دې سره به د قیامت په ورځ د قارون او فرعون او هامان او د ابي بن خلف ملګری وي.

**فایده**: دا حدیث مونږ ته راښايي چې باید مسلمان په خپل پنځه وخته فرض لمونځ باندې همېشوالی وکړي چې د قیامت په ورځ د مسلمان لپاره رڼا او همدارنګه دخلاصون دلیل وګرځي.

او که چرته مسلمان په خپل لمونځ کې کوتاهي وکړي او په خپل وخت يې ادا نکړي یا کله کړی او کله نه کړی نو دا لمونځ سړي ته څه فایده نه رسوي بلکې واپس پرې دلیل وي تر دې چې دا انسان به د قارون او د فرعون او د هامان او د ابي بن خلف ملګری وګرځي.

الله ¸ دې مونږ د دوی له ملګرتوب نه وساتي، امین یا رب العلمین.

٤. **عَنْ أَبِيْ حَازِم ﵁ قَالَ: «لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّه ﷺ قَامَ عَلَيْهِ فَكَبَّرَ وَكَبَّرَ النَّاسُ وَرَاءَهُ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ ثُمَّ رَفَعَ فَنَزَلَ الْقَهْقَرَى حَتَّى سَجَدَ فِيْ أَصْلِ الْمِنْبَرِ ثُمَّ عَادَ حَتَّى فَرَغَ مِنْ آخِرِ صَلَاتِه ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ فَقَالَ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّيْ صَنَعْتُ هَذَا لِتَأْتَمُّوا بِيْ وَلِتَعَلَّمُوا صَلَاتِيْ».**[١]

---

(١) صحیح مسلم: (٢ / ٧٤)

ژباړه: ابو حازم ﵁ وايي چې رسول الله ﷺ مې په خپل ممبر ولید چې تکبیر يې وکړ، خلکو ورپسې اقتداءً هم تکبیر وکړ، نبي کریم ﷺ په ممبر و نو لاندې ورځخه راښکته شو او دممبر په بیخ کې يې سجده وکړه، بیرته ممبر ته پورته شو، تر دې چې له لمونځ څخه اوزګار شو خلکو ته يې مخ راوګرځو او ورته يې وويل: اي خلکو! داسې لمونځ مې ځکه وکړ چې تاسو راپسې اقتداء وکړئ او زما د لمونځ طریقه زده کړئ.

**فایده**: دا حدیث مونږ ته را ښايي چې باید معلمین او امامان خلکو ته لمونځ په عملي شکل وښايي ترڅو خلک ښه پوهه شي او د صحیح لمونځ طریقه زده کړي

٥. **عَنْ مَالِك بْنِ الْحُوَيْرِث ﵁ قَالَ: قَالَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «صَلُّوا كَمَا رَأَيْتُمُونِي أُصَلِّي»**.[١]

ژباړه: دمالک ابن الحویرث ﵁ نه روایت دی چې رسول الله ﷺ ویلي دي: تاسو لمونځ وکړئ لکه څرنګه چې تاسو ماوینئ او زه لمونځ کوم.

**فایده**: دې حدیث کې مونږ ته رسول الله ﷺ امر کړی دی چې داسې لمونځ به کوئ چې څنګه يې زه کوم او تاسو ما ګورئ، نو پیغمبر ﷺ خو وفات دی مونږ به لمونځ د هغه له احادیثو څخه اخلو، دا به داسې شي لکه هغه چې لمونځ کوي او مونږ ورته ګورو.

(١) صحیح البخاري: (١ / ٢٢٦)

٦. **عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ ﵁ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلاَةِ فَأَسْبِغِ الْوُضُوءَ ثُمَّ اسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ فَكَبِّرْ».**(١)

ژباړه: له ابو هريره ﵁ نه روايت دی چې رسول الله ﷺ ويلي دي: تاسو چې کله لمونځ ته پاځيږې نو اول پوره اودس وکړه بيا قبلې ته مخامخ شه او (الله اکبر) ووايه.

**فايده**: دا حديث مونږ ته راښايي چې کله سړی د لمونځ لپاره پاځيږي نو اول به اودس کوي څکه چې بې اودسه لمونځ نه کيږي په اودس کې به خپل اندامونه پوره وينځي او چې لمونځ کوي نو قبلې ته به مخامخ شي او تکبير تحريمه به ووايي.

په دې حديث کې مونږ ته د لمونځ دوه شرطونه ذکر شول چې اودس کول او قبلې ته مخ ګرځول دي.

## د لمونځ ارکان او فرضونه

لمونځ څوارلس ارکان او فرضونه لري:

١. ودرېدل سره له طاقته.

٢. تکبير تحريمه ويل.

٣. د امام او مقتدي دواړو په حق کې سورت فاتحه لوستل.

٤. رکوع کول.

٥. له رکوع څخه پورته کېدل او سم سيده ودرېدل.

(١) صحيح مسلم: (٢ / ١١)

٦. په اوو اندامونو سجده کول.

٧. له سجدې څخه پورته کېدل.

٨. د دوو سجدو ترمنځ کېناستل.

٩. اخرنی تشهد ویل.

١٠. د اخرنی تشهد لپاره کیناستل.

١١. په اخرني تشهد درود ویل.

١٢. ټول ارکان په اطمینان سره ادا کول.

١٣. سلام ګرځول.

١٤. په ترتیب سره ټول ارکان سر ته رسول.

### د لمونځ د ارکانو حکم:

که څوک رکن قصداً پریږدي لمونځ يې باطلیږي، خو که سهواً له چا څخه پاتې شي رکن به راوګرځوي او ورسره به سجده سهوه هم وکړي.

### د لمونځ واجبات:

لمونځ اته واجبات لري:

١. له تکبیرې تحریمي نه بغیر ټول تکبیرونه.

٢. په رکوع کې د سبحان ربي العظيم ویل.

٣. د امام او ځانله لمونځ کونکی لپاره د سمیع الله لمن حمده ویل.

٤. د ربنا ولک الحمد ویل.

٥. په سجده کې د سبحان ربي الأعلی ویل.

٦. د دوو سجدو په منځ کې دعا ویل.

٧. د اولني تشهد لپاره کېناستل.

٨. د اولني تشهد ویل.

## د واجباتو د پرېښودو حکم:

که څوک په قصد سره واجب پرېږدي لمونځ يې باطلېږي خو که له چا څخه سهواً پاتې شي نو جبيره يې په دوو سجدو سره کيږي چې د (سهوې سجده) باندې يې خلک پېژني.

له دې علاوه چې په لمونځ کې څومره اعمال دي ټول سنت دي.

## اول او دوهم رکن:

اول رکن ودرېدل دي، او دوهم رکن تکبير تحريمه ده.

داولني او دوهم رکن دليل:

٩. **عَنْ أَبِيْ حُمَيْدٍ السَّاعديِّ ﵁ قَالَ: «كَانَ رَسُولِ اللَّه ﷺ إِذَا قَامَ في الصَّلَاة اعْتَدَلَ قَائمًا وَرَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى يُحَاذِيَ بِهِمَا مَنْكِبَيْهِ ثُمَّ قَالَ «اللَّهُ أَكَبْرُ»**.(١)

ژباړه: له ابوحميد الساعدي ﵁ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ

(١) سنن ابن ماجه: (١ / ٢٨٠)

به کله په لمونځ ودرېده نو نېغ به ودرېده او او دواړه لاسونه به یې دومره پورته کړل چې د اوږو سره به یې برابر شول، او بیا به یې الله اکبر وویل.

**فایده**: دا حدیث مونږ ته راښايي چې کله یو سړی لمونځ کوي نو سیده نېغ به ودرېږي او چې کله تکبیر تحریمه وایي نو لاسونه به د اوږو برابر اوچت کړي او بیا به الله اکبر ووایي.

## د تکبیر پرمهال دګوتوخورول:

۱۰. **عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: «كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا كَبَّرَ نَشَرَ أَصَابِعَهُ».**[1]

ژباړه: له ابو هریره ﷺ څخه روایت دي چې رسول الله ﷺ **به کله د لمونځ لپاره تکبیر تحریمه کو نو خپلې ګوتې به یې خورولې.**

**فایده**: په دې حدیث کې مونږ ته دا راښودل کېږي چې کله یو لمونځ ګذار تکبیر تحریمه کوي نو د لاسونود اوچتولو په وخت کې به خپلې ګوتې خوروي یعني د لاسونوګوتې به سره نه یو ځایې کوي.

## لاس په سینه کېښودل

۱۱. **عَنْ هُلْبٍ ﷺ قَالَ: «رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ: «يَنْصَرِفُ عَنْ يَمِيْنِهِ وَعَنْ يَسَارِهِ وَيَضَعُ يَدَهِ عَلَي صَدْرِهِ».**[2]

(۱) سنن الترمذي: (۳۳/۱)
(۲) رواه احمد: (۵۱/۳)

ژباړه: د هلب رضي الله عنه څخه روایت دی چې ما رسول الله ﷺ ولید چې ګرځوو به يې سلام ښي طرف او چپ طرف ته او خپل لاسونه به يې په سينه کېښوده.

**فایده**: په دې حدیث کې مونږ زده کړل چې کله تکبیرتحریمه وایو نو بیا به لاسونه په سینه باندې ږدو، نه له نامه نه ښکته.

## د لمونځ د شروع دعا

۱۲. **عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه فَقُلْتُ: «بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي يَا رَسُولَ اللهِ إِسْكَاتُكَ بَيْنَ التَّكْبِيرِ وَالْقِرَاءَةِ مَا تَقُولُ قَالَ: أَقُولُ: «اللَّهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ؛ اللَّهُمَّ نَقِّنِي مِنَ الْخَطَايَا كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ، اللَّهُمَّ اغْسِلْ خَطَايَايَ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ».**(۱)

ژباړه: دابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې ما پیغمبر ﷺ ته وویل: زما مور او پلار دې له تا څخه قربان شي چې د تکبیر او قراءت ترمنځ چپ کېدو کې دې ته څه وايې؟ هغه وویل: زه وایم: «اللّٰهُمَّ باعد..» ای الله ! ته جداوالی راوله زما او زما د ګناهونو په منځ کې په اندازه د مشرق او مغرب، او ای الله ، ته ما لره پاک کړې زما د ګناهونونه لکه څرنګه چې پاکولی شي سپينه جامه له ښيري څخه، او ای الله ، ووینځې زما ګناهونه په اوبو او په واورې او په ګلۍ سره.

**فایده**: په دې حدیث کې مونږ زده کړل چې کله تکبیرتحریمه

(۱) صحيح البخاري: ۱۰ كتاب الأذان: ۸۹ باب ما يقول بعد التكبير

وویل شي نو باید مونږ ذکر شوې دعا ولولو او که چا ته نه وي یاده نو باید دا دعا ولولي:

١٣. **عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّه ﷺ إِذَا اسْتَفْتَحَ الصَّلاَةَ قَالَ: «سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَتَعَالَى جَدُّكَ وَلاَ إِلَهَ غَيْرُكَ».**[١]

ژباړه: له بي بي عايشې رضي الله عنها نه روایت دی چې رسول الله ﷺ **به** کله لمونځ شروع کو نو ویل به یې: پاکي ده الله ، تا لره د هر قسم عیب او نقصان څخه او ښایسته ثناګانې او د کمال څخه ډک صفتونه دي تا لره او برکت والا دی نوم ستا او اوچت دی شان ستا او نشته د بندګۍ لایق په حقه بغیر له تا نه.

١٤. **اعوذ بالله، او بسم الله ویل سورت فاتحې څخه ورسته:**

١٥. **عَنْ أَبِيْ سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّه ﷺ يَقُولُ: «أَعُوذُ بِاللَّهِ السَّمِيعِ الْعَلِيمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ مِنْ هَمْزِهِ وَنَفْخِهِ وَنَفْثِه».**[٢]

ژباړه: د ابو سعیدخدري رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به ویل: زه له شیطان رټلی شوي نه په الله ، پوري چې اوریدونکی او پوهه دی پناه نیسم د هغه دوسوسوڅخه او د هغه د تکبر او له پوکو څخه.

(١) الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم: (٢ / ٤٣١)
(٢) سنن الترمذي: (١ / ٣٣) وصححه ابن حبان والحاكم

**فايده**: په دې حديث کې مونږ زده کړل چې کله مونږ قرات شروع کوو نو بايد اول اعوذ بالله ووايو، الله ج هم فرمايي: «**وإِذَاقَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْبِاللهِ مِنَ الشَيْطَنِ الرَّجِيْمِ**».

ژباړه: کله چې قران کريم لولې نو له شيطان رټلی شوي څخه الله پورې پناه وغواړه. نو بايد د سورت فاتحې څخه مخکې (اعوذ بالله) وويل شي.

١٦. **عَنْ نُعَيْمِ الْمُجْمِرِ ﵁ قَالَ: «صَلَيْتُ وَرَاءَ أَبي هُرَيْرَةَ ﵁ فَقَرَأَ: بِسْمِ الله الرَّحْمَنِ الرَّحِيم، ثُمَّ قَرَأَ بِأُم الْقُرْآن حَتَّى بَلَغَ ﴿وَلا الضَّالِّينَ﴾ قَالَ: آمِينَ وَقَالَ النَّاسُ: آمِينَ وَفيْه ثُمَّ يَقُوْلُ إِذَا سَلَّمَ قَالَ: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنِّي لأَشْبَهُكُمْ صَلاَةً بِرَسُولِ الله ﷺ».**[1]

ژباړه: د نعيم المجمر ﵁ نه روايت دی چې ما په ابو هريرة ﵁ پسې لمونځ وکړ نو هغه اول بسم الله وويله او بيا يې ام القران (سورة الفاتحه) ولوستله تر دې چې (غير المغضوب عليهم ولا الضالين) ته ورسېد نو ابو هريره ﵁ امين وويل او خلکو هم امين وويلو.

په دې حديث کې دا هم راغلي دي چې بيا يې وويل کله چې يې سلام واړه و نو ويېويل زما دې په هغه ذات قسم وي چې زما روح د هغه په لاس کې ده يقينا زه رسول الله ﷺ ته د لمونځ په اعتبار له تاسو نه ډېر زيات ورته يم.

**فايده**: په دې حديث کې مونږ زده کړل چې بايد سورة فاتحې

(١) سنن الدارقطني: (١ / ٣٠٥)

ښخه مخکې "بسم الله" وویل شي، همدا رنګه امین باید په زوره وویل شي ځکه نعیم المجمر رضي الله عنه وایي چې کله ابو هریره رضي الله عنه "و لا الضالین" وویل نو بیا یې امین هم وویل او وروسته خلکو هم امین وویل نو معلومه شوه چې امین باید په زوره وویل شي ځکه ابو هریره رضي الله عنه په قسم سره وویل چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم به داسې لمونځ کو نو په دې احادیثو عمل پکار دی نه داحادیثوښخه ځوابونه.

## دریم رکن: د سورت فاتحې لوستل

ددریم رکن دلیل:

**١٧. عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رضي الله عنه أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صلی الله علیه وسلم قَالَ: «لاَ صَلاَةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ».**(١)

ژباړه: له عبادة بن صامت رضي الله عنه نه روایت دی چې یقینا رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: د هغه چا لپاره لمونځ نشته دی چې سورت فاتحه ونه وايي.

**فایده:** په دې حدیث کې مونږ یاد کړل چې څوک په خپل لمونځ کې سورة فاتحه ونه وایي نو د هغه لمونځ نه کیږي ځکه حدیث کې ذکر شو **(لاصلاة)** یعنې له سره د دې سړي لپاره لمونځ نشته که بې فاتحې لمونځ یې وکړه نو دا داسې شو لکه چې له سره یې نه وي کړی، که ځانله لمونځ وي او که په امام پسې وي.

لکه په راروان حدیث کې به ذکر شي.

(١) الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم: (١ / ٢٥٦)

۱۸. عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامت ﵁ قَالَ: قَالَ: رَسُوْلُ الله ﷺ: «لاَ صَلاَةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ خَلْفَ الإِْمَامِ».[۱]

ژباړه: له عبادة بن صامت ﵁ نه روایت دی چې رسول الله ﷺ ویلي دي: د هغه چا لپاره لمونځ نشته دی چې سورت فاتحه په امام پسې ونه لولي.

**فایده**: دې حدیث کې مونږ. زده کړل چې د سورت فاتحې نه بغیر لمونځ نه کیږي، که ځانله لمونځ وي او که امام پسې وي.

نو دا د مذهب خبره نه ده بلکې په دي کې ښکاره دا حدیث راغلي دي باید مونږ. یې په سر سترګو ومنو.

## امین په لوړ اواز ویل

۱۹. عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ ﵁ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «إِذَا قَرَأَ (وَلاَ الضَّالِّينَ) قَالَ آمِينَ وَرَفَعَ بِهَا صَوْتَهُ».[۲]

ژباړه: له وائل بن حجر ﵁ نه روایت دی چې رسول الله ﷺ به کله "و لا الضالین" ووایو نو بیا یې وویل "امین" او اواز به یې پرې اوچت کړ.

**فایده**: په دې حدیث کې مونږ. زده کړل چې کله (ولا الضالین) وویل شي نو باید په اوچت اواز (امین) وویل شي.

(۱) رواه البیهقی فی کتاب القراءة: ٤٦
(۲) سنن أبي داود - (۱ / ۳٥۱)

دا د پيغمبر ﷺ سنت دي او د يهودو پرې زړه درديږي الله ¸ دې د دوی ملګرو زړونه وردروي.

دا د کوم تنظيم او کومې ډلې نښه نه ده بلکې د پيغمبر ﷺ سنت دي چا چې دا د چا لپاره نښه ګرځولې ده نو په خطا دي د يهودو سره مرسته کول دي لکه چې په دې راروان حديث کې به بيان شي.

.۲۰ **عَنْ عَائِشَةَ ﵂ عَنْ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «مَا حَسَدَتْكُمُ الْيَهُوْدُ عَلَى شَيْءٍ مَا حَسَدَتْكُمْ عَلَى السَّلَامِ وَالتَّأْمِيْنِ».**[١]

ژباړه: د بي بي عائشي ﵂ نه روايت دی چې نبي کريم ﷺ ويلي دي: کينه او حسد نه کوي له تاسو سره يهود په هيڅ شي باندې لکه څومره چې حسد او کينه کوي تاسو سره د سلام په اچولو او په امين ويلو سره په لمانځه کې.

**فايده:** په دې حديث کې رسول الله ﷺ مونږ ته هغه دوه شيان په ګوته کړل چې په هغې سره يهود درديږي او همدغه يې د کينې او حسد لامل ګرځي چې يو له هغې څخه سلام اچول او بل په زوره امين ويل، هر هغه څوک چې د يهودو دشمن وي او د رسول الله ﷺ سره يې مينه او محبت وي نو هغه به په دې حديث باندې عمل کونکی وي او د چا چې د يهودو سره مينه وي نو هغه به يې پخپله هم نه وايي او نور مسلمانان به ترې هم منع کوي او دا سنت به

(١) سنن ابن ماجه - (١ / ٢٧٨)

ورته داسې معرفي کوي چې دا د یوې ډلې ننبه او نشان دی او دا خلک د دنیا په مخ بد خلک دي.

## د سورت فاتحې سره بل سورت لوستل

۲۱. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «ثُمَّ اقْرَأْ بِمَا تَيَسَّرَ مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ».(۱)

ژباړه: له ابو هريره ﵁ نه روایت دی چې رسول الله ﷺ ویلي دي: او بیا ولوله (له سورت فاتحې نه وروسته) هغه چې اسان وي له تاسره (ښه درته یاد وي) د قرانکریم څخه.

**فایده**: دې حدیث کې مونږ یاد کړل چې د سورت فاتحې څخه وروسته به له قرانکریم څخه هغه ځای لولې چې تا ته ښه یاد وي.

ج: په اولنې رکعت کې اوږد قراءت کول او په دوهم کې له اولنې څخه کم قراءت کول:

۲۲. عَنْ أَبِي قَتَادَةَ عَنْ أَبِيهِ ﵁: «أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يُطَوِّلُ فِي الرَّكْعَةِ الْأُولَى مَا لَا يُطَوِّلُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ وَهَكَذَا فِي الظُّهْرِ وَهَكَذَا فِي الصُّبْحِ».(۲)

ژباړه: له ابوقتادةالانصاري ﵁ نه روایت دی چې نبي کریم ﷺ به په لومړني رکعت کې دومره اوږد والی کو چې په دوهم رکعت کې

(۱) الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم - (۳ / ۸۶)
(۲) صحيح البخاري - (۱ / ۲٦۹)

به دومره نه کو، په دې طريقه به يې لمونځ کو د ماسپښين او سهار لمونځ کې.

**فايده**: دې حديث کې مونږ زده کړل چې اولنی رکعت به له دوهم رکعت څخه لږ اوږد وي څکه څوک چې د جماعت له لمونځ څخه لږ ورسته وي چې هغه هم اولنی رکعت راونيسي.

## د مد په حروفو باندې مد کول

٢٣. **عَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ: «كَانَتْ قِرَاءَةُ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ مَدًّا، ثُمَّ قَرَأَ (بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ) يَمُدُّ (بِسْمِ اللَّهِ) وَيَمُدُّ بِـ (الرَّحْمَنِ) وَيَمُدُّ بِـ (الرَّحِيمِ)».**[1]

ژباړه: له انس ﷺ نه روايت دی چې د رسول الله ﷺ لوستل به د مد په حروفو مد کول وو، بيا به يې (بسم الله الرحمن الرحيم) ولوستله او مد يې وکړه په (بسم الله) کې او همدا رنګه مد يې وکړه په (الرحمن) کې اوهمدارنګه مد يې وکړه په(الرحيم) کې.

**فايده**: دا حديث مونږ ته راښايي چې نبي کريم ﷺ قراءت داسې وو چې په کوم ځای کې به مد و نو په هغې به يې مد کومعنا دا ده چې پيغمبر ﷺ به خپل قراءت په قلاره قلاره ويلو، تلوار به يې نه کو، په دې کې له هغه قراءت نه منع راغلې ده چې ځينې قاريان صاحبان يې د رمضان په تراويح لمونځ کې په تلوار سره کوي.

(١) الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم - (٢ / ٤٦٩)

**٢٤. عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رضي الله عنها: «أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَقْرَأُ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيْمِ، الْحَمْدُ للَّه رَبِّ الْعَالَمِينَ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ مَالك يَوْمِ الدِّين إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ اهْدنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقيمَ صرَاطَ الَّذينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوب عَلَيْهِمْ وَلاَ الضَّالِّينَ فَقَطَّعَهَا آيَةً آيَةً وَعَدَّهَا عَدَّ الأَعْرَابِ وَعَدَّ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيْمِ آيَةً وَلَمْ يَعُدَّ عَلَيْهِمْ».**[١]

ژباړه: له ام سلمة رضي الله عنها نه روايت دی چې نبي کريم ﷺ سورت فاتحه لوستله، او هر ا يت به يې جدا جدا لوسته او د بانډچيانوپه څير به يې ايتونه شمېرل، او شميرله به يې (بسم الله) جدا ايت، او (انعمت عليهم) يې مستقل ايت ونه شميره (يعني ايات يې په (والضالين) ختم کړ.

**فايده**: دې حديث کې مونږ زده کړل چې رسول الله ﷺ به په خپل قراءت کې يو يو ايت لوسته او تلوار به يې نه کو، داسې قراءت به يې کو لکه بانډه چيان چې شمار ساده او په قلار وي او رسول الله ﷺ به (بسم الله) د سورت فاتحې جدا ايات شميره، او هر چې (انعمت عليهم) دی نو په دې ځای به يې وقف کو، دا ځای به يې بېل ايت نه شمېره بلکې ايات به يې په (والضالين) باندې ختمو، نو په دې سره سورت فاتحه (٧) ايتونه شوه.

مونږ له پکار دي چې د رسول الله ﷺ د قرائت پشان قرائت وکړو او تلوار ونه کړو.

(١) سنن الدارقطني - (١ / ٣٠٧)

## ۞ رکوع ته د تللوپه وخت کې لاسونه اوچتول

٢٥. **عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عُمَرَ ﵁ قَالَ: «رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ إِذَا قَامَ فِي الصَّلَاةِ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى تَكُونَا حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ وَكَانَ يَفْعَلُ ذَلِكَ حِينَ يُكَبِّرُ لِلرُّكُوعِ وَيَقُولُ: «سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ».**[١]

ژباړه: له عبدالله بن عمر ﵁ نه روايت دی چې ما رسول الله ﷺ ليدلی و چې کله به لمونځ ته ودرېده نو خپل دواړه لاسونه به يې اوچت کړل تر دې چې د اوږو سره به برابر به شول او دغه کار (لاسونه اوچتول) به يې د رکوع لپاره تکبيره کې هم کو، او بيا به يې وويل (سمع الله لمن حمده) له رکوع نه وروسته.

## ۞ خلورم رکن: درکوع کول

رکوع ته د ښکته کېدو پرمهال د تکبيرويل

٢٦. **عَنْ سُهَيْلٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ أَنَّهُ كَانَ يُكَبِّرُ كُلَّمَا خَفَضَ وَرَفَعَ وَيُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ كَانَ يَفْعَلُ ذَلِكَ.**[٢]

ژباړه: له سهيل ﵁ نه روايت دی دا روايت کوي له خپل پلار نه او دا روايت کوي د ابوهريره ﵁ نه چې هغه به د ښکته کېدو او پورته کېدو په وخت کې الله اکبر کو او ابو هريره ﵁ به وويل چې رسول الله ﷺ به هم داسې کول.

**فايده:** په دې حديث کې مونږ زده کړل چې کله په لمونځ کې ښکته

(١) صحيح البخاري - (١ / ٢٥٨)
(٢) صحيح مسلم - (٢ / ٨)

يا پورته کېږو نو بايد (الله اکبر) ووايو، دا د نبي کريم ﷺ طريقه ده او له تکبير تحريمه نه بغير ټولو تکبيرونو ته تکبير د انتقال ويل کېږي.

## لاسونه په زنګونانوکېښودل او خپلي ګوتي شا ته نه اړول

**۲۷. عَنَ سَعْدٍ رضي الله عنه قَالَ: «أُمِرْنَا أَنْ نَضَعَ أَيْدِينَا عَلَى الرُّكَبِ».**(١)

ژباړه: د سعد رضي الله عنه نه روايت دی چې مونږ ته امر کړی شوی دی په دې باندې چې خپل لاسونه (رکوع کې) په زونګونانو باندې کېږدو.

**فايده**: په دې حديث کې مونږ ته دا راوښودل شول چې کله رکوع ته ښکته شو نو بايد لاسونه په زنګونانو باندې کېږدو.

## په زنګونانو د لاسونو کېښودلو طريقه

**۲۸. عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَمْرٍو رضي الله عنه قَالَ: «أَلَا أُصَلِّي لَكُمْ كَمَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يُصَلِّي فَقُلْنَا: بَلَى فَقَامَ فَلَمَّا رَكَعَ وَضَعَ رَاحَتَيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ وَجَعَلَ أَصَابِعَهُ مِنْ وَرَاءِ**(٢) **رُكْبَتَيْهِ..**(٣)

ژباړه: عقبة بن عمرو رضي الله عنه وويل: ايا زه تاسوته هغه ډول لمونځ نه کوم چې ما پرې رسول الله ﷺ ليدلی دی چې دغه ډول لمونځ يې

(١) الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم - (١ / ١٠٠)
(٢) دلته (وراء) د مخکې په معنی دی، دېته په عربي کې اضداد ويل کېږي، د بېلګې په توګه (وكان ورائهم ملک) دلته هم (وراء) د (أمام) په معنی راغلی دی.
(٣) سنن النسائي (١١٨)

کو؟ مونږ وویل ولې نه! نو هغه پاځېد کله چې يې رکوع وکړه نو دواړه ورغوي يې په خپلو زنګونانو باندې کېښودل او ګوتې يې د خپلو زنګونانو مخې ته وګرځولې.

**فايده:** په دې حديث کې مونږ ته د رکوع کولو طريقه راوښودل شوه چې لمونځ کونکی به خپل ورغوي په زنګونانو باندې ږدي او خپلې ګوتې به شا ته نه اړوي.

## ۞ خپل زنګونان کلک نيول او لاسونه ترينګلي کول او له خپل بدن څخه لرې ساتل

**۲۹. عَنْ أَبِيْ حُمَيْدٍ ﷺ قَالَ: «ثُمَّ رَكَعَ فَوَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ كَأَنَّهُ قَابِضٌ عَلَيْهِمَا وَوَتَّرَ يَدَيْهِ فَتَجَافَى عَنْ جَنْبَيْهِ».**(۱)

ژباړه: ابوحميد ﷺ وايي چې بيا يې رکوع وکړه او دواړه لاسونه يې په خپلو زنګونونو باندې په داسې حالت کې کېښودل چې کلک يې نيولي وو او دواړه لاسونه يې ترينګلي کړي وو او له ډډ نه يې جدا کړي وو.

**فايده:** په دې حديث کې مو ياد کړل چې کله هم رکوع کوو نو خپل زنګونان به کلک نيسو او په څنګلو کې به لاسونه نه راټولو بلکې د لينديې په څېر به يې ترنګلي کوو او سست او مړه به لاسونه نه نيسو.

(۱) سنن أبي داود – (۱ / ۲٦۷)

## ۞ په رکوع کې سر نیغ یا زوړند نه نیول او ملا سیده کول

۳۰. **عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ إِذَا رَكَعَ لَمْ يُشْخِصْ رَأْسَهُ وَلَمْ يُصَوِّبْهُ، وَلٰكِنْ بَيْنَ ذٰلِكَ.**[1]

ژباړه: بي بي عا ئشي رضي الله عنها وايي چې رسول الله ﷺ به کله رکوع کوله نو سر به يې نه ځوړوند نيو نه به يې نيغ نيو بلکې درميانه به و (يعني سيده به و).

**فايده:** په دې حديث کې مو ياد کړل چې کله رکوع کوو نو خپل سر به نه نيغ نيسو او نه به يې زوړنده وو بلکې سيده به وي او خپل د سجدې ځاي ته به ګورو.

۳۱. **عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «لَا تُجْزِئُ صَلَاةٌ لَا يُقِيمُ الرَّجُلُ فِيهَا صُلْبَهُ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ».**[2]

ژباړه: له ابومسعود انصاري رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ ويلي دي: د هغه چا لمونځ نه صحيح کيږي چې په رکوع او سجده کې خپله ملا سمه سيده نه کړي.

**فايده:** دا حديث مونږ ته راښايي چې د چا ملا په رکوع او سجده کې سمه سيده نه وي نو لمونځ يې صحيح نه دی، او ناقص لمونځ الله نه قبلوي بايد په دې ډير اهتمام وشي چې داسې نه لمونځ کوو او قبليږي نه او واپس پرمونږ باندې عذاب وي.

(۱) صحيح مسلم - (۲ / ۱۰۷)
(۲) سنن الترمذي - (۲ / ۵۱)

## دخلورم رکن دليل

۳۲. عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «ثُمَّ ارْكَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا».[۱]

ژباړه: د ابو هريره ﷺ نه روايت دی چې رسول الله ﷺ ويلي دي: بيا رکوع وکړه تر دي چې ښه په ارام شې په داسې حال کې چې ته رکوع کونکی يې.

**فايده**: په دې حديث کې پيغمبر ﷺ مونږ ته راښايي چې په رکوع کې به دومره وخت پاتې کيږې چې پوره ارامتيا حاصله کړې، بايد دومره وخت په کې تېر شي چې درې کرتې په کې "سبحان ربي العظيم" وويل شي.

## په رکوع کې دعاويل

اوله دعا:

۳۳. عَنْ حُذَيْفَةَ ﷺ: «قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ ثُمَّ رَكَعَ فَجَعَلَ يَقُولُ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ».[۲]

ژباړه: د حذيفه ﷺ نه روايت دی چې ما لمونځ وکړه د نبي کريم ﷺ سره کله چې يې رکوع وکړه نو شروع شو ويويل: (سبحان ربي العظيم) زما رب له هر ډول عيب او نقصان نه پاک دی او لوي ذات دی.

---

(۱) الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم - (۳ / ۸٦)
(۲) صحيح مسلم - (۲ / ۱۸٦)

**فایده**: په دې حدیث کې مونږ ته راوښودل شول چې کله رکوع کوو باید هغه مسنوني دعاګانې په کې ووایو چې یوه یې (سبحان ربي العظیم) ده او نورې به هم ذکر شي.

درې ځل یې ویل سنت دي په دې باندې دا حدیث دلیل دی:

۳٤. **عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رضي الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: «إِذَا رَكَعَ أَحَدُكُمْ، فَقَالَ فِي رُكُوعِهِ: سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ، ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، فَقَدْ تَمَّ رُكُوعُهُ، وَذَلِكَ أَدْنَاهُ، وَإِذَا سَجَدَ، فَقَالَ فِي سُجُودِهِ: سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى، ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، فَقَدْ تَمَّ سُجُودُهُ، وَذَلِكَ أَدْنَاهُ».**[١]

ژباړه: له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ ویلي دي: تاسو کې چې کله څوک رکوع کوي نو په رکوع کې دې ووایي: زما رب له هر قسمه عیب او نقصان نه پاک دی او لوی دی، درې کرتې نو ددغه سړي رکوع پوره شوه، او د سبحان ربي العظیم درې کرته ویل کمه اندازه ده، یعنې د دېنه به کم نه شي ویل کېدی او د ډېر لپاره یې حد نشته.

دوهمه دعا:

۳٥. **عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ كَانَ يَقُولُ فِي رُكُوعِهِ « سَبُّوحٌ قُدُّوسٌ رَبُّ الْمَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ»».**[٢]

ژباړه: له بي بي عایشې رضي الله عنها نه روایت دی چې رسول الله ﷺ به په

(١) سنن الترمذي - (٢ / ٤٦)
(٢) الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم - (٤ / ١٥٦)

خپلې رکوع او سجده کې ویل: "سبوح قدوس رب الملائكة والروح" زما د رب ډېره تسبیح بیانیږي او له هر قسمه عیب او نقصان نه ډیر پاک دی او هغه د ټولو ملائکو او د جبریل ﷺ رب دی.

**فایده**: دې حدیث کې مونږ د رکوع دوهمه دعا یاده کړه چې کله رکوع کونو دا دعا په کې هم ویلی شو.

دریمه دعا (هېره دې نه وي چې دا دعا په سجده کې لوستلی شي):

۳۶. **عَنْ عَائِشَةَ** رضي الله عنها **قَالَتْ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ** ﷺ **يُكْثِرُ أَنْ يَقُولَ فِي رُكُوعِهِ وَسُجُودِهِ: «سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي»**.(۱)

ژباړه: له بي بي عایشې رضي الله عنها نه روایت دی چې رسول الله ﷺ به په رکوع او سجده کې دا دعا ډېره ویله: «**سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي**] ای الله زمونږ ربه! تا لره پاکي ده له هر قسمه عیب او نقصان څخه، او تا لره له کمال څخه ډک صفتونه دي ای الله !, ته ما ته زما د ګناهونو بښنه وکړه.

**فایده**: په دې حدیث کې مونږ دریمه دعا یاده کړه چې په رکوع او سجده کې ویل کیږي پیغمبر ﷺ به هم دا دعا ډیره ویله مونږ له هم پکار دي چې دا دعا په خپلو رکوعګانو او سجدو کې ډېره ووایو.

(۱) صحيح البخاري - (۱ / ۲۷٤)

## د: په رکوع او سجده کې لس ځله دعا ويل سنت دي:

۳۷. **عَنْ أنس رضي الله عنه قَالَ: «مَا صَلَّيْتُ وَرَاءَ أَحد بَعْدَ رَسُولِ اللَّه ﷺ أَشْبَهَ صَلاَةً بِرَسُولِ اللَّه ﷺ مِنْ هَذَا الْفَتَى يَعْنِى عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ، قَالَ فَحَزَرْنَا فِي رُكُوعِهِ عَشْرَ تَسْبِيحَاتٍ وَفِى سُجُودِهِ عَشْرَ تَسْبِيحَاتٍ».**[1]

ژباړه: له انس رضي الله عنه نه روايت دی چې د نبي کريم ﷺ نه وروسته ما د هيڅ چا پسې لمونځ نه دی کړی چې د هغه سره يې لمونځ ډېر مشابه وي له دې ځوان ځخه يعنې (عمر بن عبد العزيز) انس رضي الله عنه وويل چې مونږ يې رکوع او سجده په لسو لسو تسبيحاتو اټکل کړه.

**فايده**: په دې حديث کې مونږ ياد کړله چې بايد لمونځ ګذار دومره رکوع او سجده وکړي چې لس لس کرتي پکې تسبيحات ووايي.

## پنځم رکن: درکوع ځخه پورته کېدل

د (سمع الله لمن حمده) ويل:

۳۸. **عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّه ﷺ يَقُوْلُ: «سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ» حِيْنَ يَرْفَعُ صُلْبَهُ مِنَ الرَّكْعَةِ.**[2]

ژباړه: له ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ به وويل (سمع الله لمن حمده) اوري الله ثنا او صفت د هغه چا چې ثنا او صفت يې وايي، چې کله به يې له رکوع نه خپله شا اوچتوله.

(۱) سنن أبی داود - (۱ / ۳۳۱)
(۲) صحيح البخاري - (۱ / ۲۷۲)

**فايده:** په دې حديث کې مونږ زده کړل چې کله د رکوع څخه کله اوچتيږو نو بايد (سمع الله لمن حمده) ووايو.

د پنځم رکن دليل

٣٩. **وَعَنْهُ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: «ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَعْتَدِلَ قَائِمًا».**(١)

ژباړه: او د ابو هريره ﷺ نه روايت دی چې نبي کريم ﷺ ويلي دي بيا اوچت شه د رکوع څخه تر دې چې سم ودريږې.

**فايده:** په دې حديث کې پيغمبر ﷺ مونږ ته راوښودل چې کله د رکوع څخه پاڅيږې نو سم سيده به ودريږې تر دې چې په ولاړه ښه په ارام شې او ټوله دعا په ولاړه ووايې چې راروان حديث کې به دغه دعا ذکر شي.

د (ربناو لك الحمد..) د دعا ويل:

٤٠. **عَنْ رِفَاعَةَ ﷺ قَالَ: «كُنَّا يوما نُصَلِّيْ وَرَاءَ رَسُول اللَّه ﷺ فَلَمَّا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرَّكْعَةِ قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ وَقَالَ رَجُلٌ وَرَاءَهُ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ، حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيْهِ».**(٢)

ژباړه: له رفاعه ﷺ نه روايت دی چې مونږه يوه ورځ رسول الله ﷺ پسې لمونځ کو، کله چې يې له رکوع څخه سر راپورته کړ نو ويويل: (سمع الله لمن حمده)، يو سړي د نبي ﷺ پسي وروسته (**رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ، حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَكًافِيْهِ**) وويل.

(١) الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم - (٣ / ٨٦)
(٢) صحيح البخاري (١ / ١١٠)

ددعا ترجمه: ای زمونږه ربه ستا لپاره د کمال څخه ډک صفتونه دي داسې صفتونه چې هغه ډېر او پاک دي او برکت اچولی شوی دی په دې کې.

**فایده:** په دې حدیث کې مونږ یاد کړل چې کله د رکوع څخه پورته شوو نو باید دغه دعا ووایو چې په ویلو سره یې قیام کې اطمنان هم راځي لکه مخکې حدیث کې تېر شول او ثواب یې هم ډېر دی او له دې څخه په کې منعه وشوه چې لمونځ ګذار به زر نه ښکته کېږي ځکه چې پیغمبر ﷺ ویلي دي **(حتي تَعْتَدِلَ قَائِمًا).**

ژباړه: تر دې چې سم نېغ ودرېږې.

او له دې دعا پرته نورې دعاګانې ویل سنت دي.

## شپږم رکن: په اوو اندامونو سجده کول

سجدې ته د تللو په وخت (الله اکبر) ویل

٤١. **عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷛ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَهْوِي سَاجِدًا.**[١]

ژباړه: ابو هریره ﷛ وایي چې رسول الله ﷺ: به الله اکبر ویل کله چې به یې د سجدې اراده وکړه.

**فایده:** په دې حدیث کې مونږ یاد کړل چې کله سجدې ته ځو باید (الله اکبر) ووایو.

(١) الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم - (٣ / ٤٦)

سجدې ته د تللو په وخت کې له زنګونانو څخه لومړی لاسونه کېښودل

٤٢. **عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّه ﷺ: «إِذَا سَجَدَ أَحَدُكُمْ فَلاَ يَبْرُكْ كَمَا يَبْرُكُ الْبَعِيرُ وَلْيَضَعْ يَدَيْهِ قَبْلَ رُكْبَتَيْهِ».**[١]

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ ويلي دي: کله چې تاسو کې څوک سجده کوي نو نه د اوښ په شان دې کوټه کېږي بلکې خپل لاسونه دې له زنګونانو نه مخکې کيږدي.

## خپل لاسونه له بدن څخه لرې ساتل اوداوګو برابر کېښودل

٤٣. **عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ إِذَا سَجَدَ أَمْكَنَ أَنْفَهُ وَجَبْهَتَهُ مِنَ الأَرْضِ وَنَحَّى يَدَيْهِ عَنْ جَنْبَيْهِ وَوَضَعَ كَفَّيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ.**[٢]

ژباړه: دابوحميد ساعدي رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي کريم ﷺ به کله سجده کوله نو په ځمکه به يې خپله پوزه او تندی لګو، او له ډډ څخه به يې خپل لاسونه جدا ساتل، او د خپلو اوګو برابر به يې په ځمکه خپل ورغوي کېښودل.

**فايده:** په دې حديث کې مونږ ياد کړل چې کله سجده کوو نو خپل تندی او پوزه به په ځمکه باندې لګوو نو څوک چې خپل تندی او پوزه په ځمکه نه لګوي د هغه سړي سجده نه کېږي او د چا

(١) سنن أبي داود - (١ / ٣١١)
(٢) سنن الترمذي - (٢ / ٥٩)

چې سجده ونه شي نو لمونځ يې نه کېږي او بل په حديث کې مونږ دا ياد کړل چې بايد خپل لاسونه (ورغوي) د اوګو برابر کېږدو په داسې طريقه چې نه له سرڅخه مخکې وي او نه وروسته د تشو خوا ته کېښودل شوي وي بلکې د اوګو برابر بايد کېښودل شي.

٤٤. **وَرَوَاهُ اَبُوْدَاؤُدَ وَزَادَ: « وَ فَرَّجَ بَيْنَ فَخِذَيْهِ غَيْرَ حَامِلٍ بَطْنَهُ عَلَى شَيْءٍ مِنْ فَخِذَيْهِ».**[١]

ژباړه: دا حديث ابوداود هم روايت کړی دی او دا يې پکې زيات کړي دي چې رسول الله ﷺ به جداوالی راوستو په منځ د ورنو خپلو کې اود ورنونو کومې حصې سره به يې خيټه نه لګوله.

**فايده:** په دې حديث کې مونږ ياد کړل چې د سجدې په وخت کې به خپل ورنان د يو بل سره نه لګوو او نه به خپله خيټه له ورنانو سره لګوو.

## د ورغو ترمينځ سجده کول

٤٥. **عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ رضي الله عنه: «أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ ﷺ فَلَمَّا سَجَدَ سَجَدَ بَيْنَ كَفَّيْهِ».**[٢]

ژباړه: له وائل بن حجر رضي الله عنه نه روايت دی چې دی نبي کريم ﷺ ليدلی و چې کله به يې سجده کوله نو سجده به يې د خپلو ورغو په منځ کې کوله.

---

(١) سنن ابي داود (١٠٧/١)
(٢) صحيح مسلم - (٢ / ١٣)

**فایده:** په دې حدیث کې مونږ یاد کړل چې کله سجده کوو نو باید سر خپل د دواړو ورغوو په منځ کې کیږدو داسې نه چې لاسونه مو له سرڅخه مخکې او یاورسته ایښي وي.

## په سجده کې خپلې ګوتې یوځایې کول

٤٦. **عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ رضي الله عنه قَالَ: «كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا رَكَعَ فَرَّجَ أَصَابِعَهُ، وَإِذَا سَجَدَ ضَمَّ أَصَابِعَهُ الْخَمْسَ».**(١)

ژباړه: له وائل بن حجر رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ چې به کله رکوع کوله نو خپلې ګوتې به یې خورولې او چې کله به یې سجده کوله نو پنځه واړه ګوتې به یې راټولې کړې.

**فایده:** په دې حدیث کې مونږ یاد کړل چې کله رکوع ته لاړ شو نو خپلې ګوتې به په زنګونانو باندې خورې ږدو او چې کله سجدې ته لاړ شو نو باید خپلې ګوتې له یو بل سره نږدې کړو او سره یو ځای یې کړو.

## په سجده کې خپلې شنګلې له ځمکې څخه اوچتې ساتل

٤٧. **عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «إِذَا سَجَدْتَ فَضَعْ كَفَّيْكَ وَارْفَعْ مِرْفَقَيْكَ».**(٢)

ژباړه: د براءابن عازب رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ ویلي

(١) سنن الدارقطني - (١ / ٣٣٩)
(٢) الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم - (١ / ٣٣٥)

دي: کله چې ته سجده کوې نو خپل دواړه ورغوي (په ځمکه) کېږده او څنګلې دې اوچتې کړه.

**فایده**: په دې حدیث کې مونږ ته راوښودل شول چې کله مونږ سجدې ته لاړ شو نو باید خپل ورغوي په ځمکه باندې کېږدو او خپلې څنګلې له ځمکې څخه اوچتې وساتي، نه يې د بدن کوم ځایې سره ولګوي لکه چې مخکې حدیث کې تېر شول.

## سُتْرې ته نږدې ودرېدل

۴۸. **عَنْ مَيْمُونَةَ رضي الله عنها قَالَتْ: «كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا سَجَدَ لَوْ شَاءَتْ بَهْمَةٌ أَنْ تَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ لَمَرَّتْ»**.(١)

دبي بي میموني رضي الله عنها نه روایت دی چې نبي کریم ﷺ به کله سجده کوله نو که یوګډوری غوښتلی چې د رسول الله ﷺ مخې ته تېر شي نو تېر شوی به وای.

**فایده**: په دې حدیث کې مونږ ته راوښودل شول چې کله یو لمونځ ګذار لمونځ کوي نو سترې ته به دومره نږدې ودرېږي چې که سجدې ته لاړ شي او د دې او سترې ترمنځ دومره فاصله وي چې ګډوری په کې ایله تېر شي نو معني دا شوه چې د سترې څخه به څوک لرې نه ودرېږي.

## په سجده کې د خپو د ګوتوسرونه قبلې طرف ته ماتول

۴۹. **عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قالت: «فَقَدْتُ رسولَ الله ﷺ لَيْلَةً من الْفِرَاشِ،**

(١) الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم - (٤ / ١٩١)

**فَالْتَمَسْتُهُ، فَوَقَعَتْ يَدِي فِي بَطْنِ قَدَمَيْهِ، وهو في الْمَسْجِدِ، وَهُمَا مَنْصُوبَتَانِ».**(١)

ژباړه: له بي بي عائشي رضي الله عنها نه روايت دی چې رسول الله ﷺ **رانه** يوه شپه په بستره کې ورک شو، ما يې پلټنه کوله نو زما لاس يې د قدمونو په تلو په داسې حالت کې ولګيدل چې په مسجد کې و او د دواړه خپې يې ولاړې (ودرولې) وې.

**فايده:** په دې حديث کې مونږ ياد کړل چې کله سجدې ته لاړ شو نو خپل قدمونه بايد نيغ ودروو او د قدمونوګوتې د قبلې طرف ته ماتې کړو چې په راروان حديث کې به يې لاپسې ښه زده کړو.

٥٠. **وَفِيْ رِوَايَةٍ: «فَوَجَدْتُهُ سَاجِدًا رَاصًّا عَقِبَيْهِ مُسْتَقْبِلاً بِأَطْرَافِ أَصَابِعِهِ الْقِبْلَةَ».**(٢)

او په بل روايت کې داسې دي چې عايشه رضي الله عنها وايي: ما په داسې حالت کې ومند چې په سجده باندې پروت و، هغه خپلې پونډۍ سره نزدې کړې وې او د خپو ګوتې يې د قبلې په لور مخامخ کړې وې.

## په سجده کې دا دعا ويل:

٥١. **عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّه ﷺ كَانَ يَقُولُ فِيْ سُجُودِه: «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِيْ ذَنْبِيْ كُلَّهُ دِقَّهُ وَجِلَّهُ وَأَوَّلَهُ وَآخِرَهُ وَعَلاَنِيَتَهُ وَسِرَّهُ».**(٣)

(١) الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم - (٤ / ١٥٥)
(٢) سنن البيهقي الكبرى - (٢ / ١١٦)
(٣) الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم - (٣ / ٢١٤)

ژباړه: د ابو هريره ﷺ نه روايت دی چې يقينارسول الله ﷺ په خپلې سجده کې ويل: ای الله , ما ته زما د ټولو ګناهونو ښښنه وکړې که واړه وي او که غټ ګناهونه وي، که مخکې وي که ورستني وي، که ښکاره وي او که پټ وي.

**فايده:** په دې حديث کې مونږ ياد کړل چې په سجده کې مونږ نورې دعاګانې هم ويلې شو خومره چې د چا خوښه وي صرف د (سبحان ربي الاعلى) دعا ويل واجب دي او د نورو دعاګانو ويل سنت دي.

### د شپږم رکن دليل:

**٥٢. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «ثُمَّ اسْجُدْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا».**(١)

ژباړه: د ابوهريره ﷺ نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايي: بيا سجده وکړه تر دې چې د سجدې په حالت کې ښه په ارام شې.

**فايده:** په دې حديث کې مونږ ياد کړل چې تر هغه به په سجده کې وخت تيره وو ترڅو په سجده کې ښه ارامتيا حاصله کړو او زر به ترې نه پاڅيږو او دا د (**تَطْمَئِنَّ**) معنی ده.

او په بل حديث کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ ويلي دي:

**٥٣. عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ: «أُمِرْتُ أَنْ أَسْجُدَ**

(١) الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم - (٣ / ٨٦)

**عَلَى سَبْعَةِ أَعْظُمٍ عَلَى الْجَبْهَةِ»، وَأَشَارَ بِيَدِهِ إِلَى أَنْفِهِ وَالْيَدَيْنِ وَالرُّكْبَتَيْنِ وَأَطْرَافِ الْقَدَمَيْنِ.**[1]

ژباړه: د ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: ما ته امر کړی شوی دی چې زه سجده وکړم په اوو اندامونو باندې، په تندي او په لاس يې اشاره يې وکړه پوزې ته، او په دواړو لاسونو او زنګونونو، او د خپو په ګوتو باندې، نو دا (۷) اندامونه شول.

نو څوک چې اوه واړه اندامونه په ځمکه باندې کې نه ږدي نو سجده يې نه کيږي.

### اووم رکن: د سجدې څخه پاڅېدل

د اووم رکن دليل

٥٤. **عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا».**[2]

ژباړه: دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايل دي: بيا اوچت شه (يعني له سجدې څخه) تر دې چې په کېناستلو کې ښه په ارام شي.

**فايده:** په دې حديث کې مونږ ته راوښودل شو چې کله اوله سجده پوره کړو نو بايد بيا اوچت شو او اتم رکن ته لاړشو.

(۱) الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم - (۲ / ۱٦)
(۲) الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم - (۳ / ۸٦)

## د اوچتیدلو (پاڅیدلو) په وخت کې (الله اکبر) ویل:

٥٥. **عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ** ﵁ **قَالَ**: «**كَانَ رَسُولُ اللَّهِ** ﷺ **يُكَبِّرُ حِينَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ**».[١]

ژباړه: د ابوهریره ﵁ نه روایت دی چې رسول الله ﷺ به کله سر راپورته کو(له سجدې نه) نو الله اکبر به یې ویلو.

**فایده**: په دې حدیث کې مونږ یاد کړل چې کله له سجدې څخه پورته کیږو نو باید (الله اکبر) ووایو ځکه چې دلته د (الله اکبر) ویل واجب دي که چا ونه ویلو نو سجده سهوه پرې لازمیږي.

## اتم رکن: د دوو سجدو په مینځ کې کیناستل

د اتم رکن دلیل

٥٦. **وَفِيْ رِوَايَةٍ لَهُ** ﵁: «**ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا**».[٢]

ژباړه: او له ابوهریره ﵁ نه روایت دی رسول الله ﷺ ویلي دي: چې بیا اوچت شه (له سجدې څخه) تر دې چې ته په کیناستلو کې ارامتیا حاصله کړې.

**فایده**: په دې حدیث کې مونږ ته راوښودل شول چې کله له سجدې څخه پاڅیږو نو باید په صحیح طریقې سره کینو او تر دې پورې کینو چې ښه په ارام او اطمنان کې شو او هغه دعا چې په دې ځای کې ویل کیږي ووایو چې په (٥١) حدیث کې به راشي.

(١) الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم - (٣ / ٤٦)
(٢) الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم - (٣ / ٨٦)

## ۞ د کېناستلو په وخت کې په مسواکۍ ګوتې اشاره کول

**٥٧. عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ ﵁ قَالَ: «رَأَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ سَجَدَ فَوَضَعَ يَدَيْهِ حَذْوَ أُذُنَيْهِ ثُمَّ جَلَسَ فَافْتَرَشَ رِجْلَهُ الْيُسْرَى ثُمَّ وَضَعَ يَدَهُ الْيُسْرَى عَلَى رُكْبَتِهِ الْيُسْرَى وَوَضَعَ ذِرَاعَهُ الْيُمْنَى عَلَى فَخِذِهِ الْيُمْنَى ثُمَّ أَشَارَ بِسَبَّابَتِهِ وَوَضَعَ الْإِبْهَامَ عَلَى الْوُسْطَى وَقَبَضَ سَائِرَ أَصَابِعِهِ ثُمَّ سَجَدَ فَكَانَتْ يَدَاهُ حِذَاءَ أُذُنَيْهِ».**[١]

ژباړه: له وائل بن حجر ﵁ نه روايت دی چې ما نبي کريم ﷺ وليده چې سجده يې وکړه او دواړه لاسونه يې په خپلو دواړو يې د غوږونو برابر کېښودل او بيا کېناستلو او خپه يې وغوړوله، بيا يې خپل چپ لاس په خپل چپ زنګون کېښوده، او په خپل ښی ورون يې د ښی لاس څنګل کېښوده، او بيا يې په خپلې مسواکۍ ګوته اشاره کوله او غټه ګوته يې په منځنۍ کوته کېښوده او نورې ګوتې يې راټولې کړې او بيا يې (دوهمه) سجده وکړه او دواړه لاسونه يې د غوږونو برابر وو.

فايده: په دې حديث کې مو ياد کړل چې کله سجده کوو نو بايد لاسونه د غوږونو برابر کېږدو او کله چې د اولې سجدې څخه سر راپورته کړو نو بايد په داسې طريقې کېنو چې ښي لاس په ښي ورون او چپ لاس په چپ زنګون کېږدو او په مسواکۍ ګوته باندې اشاره کوو.

---

(١) مسند أحمد - (٣١ / ١٥٠)

## د دواړو سجدو په منځ کې دعا ویل

**٥٨. عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنه كَانَ النَّبِيُّ ﷺ: «يَقُولُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ: «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِيْ وَارْحَمْنِيْ وَعَافِنِيْ وَاهْدِنِيْ وَارْزُقْنِيْ».**[١]

ژباړه: له ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ به د دواړو سجدو په منځ کې ویل: ای الله، ما ته ښښنه وکړې (زما د ګناهونو) او پر ما رحم وکړې او ما ته معافي وکړې او ما ته هدایت وکړې (د سمې لارې) او ما ته روزي راکړې (حلاله).

**فایده:** په دې حدیث کې مونږ یاد کړل چې د دوو سجدو په منځ کې باید غلي کې نه نو او دغه ذکر شوي دعا ووایو.

**٥٩. عَنْ حُذَيْفَةَ رضي الله عنه أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ ﷺ يُصَلِّى وَكَانَ يَقْعُدُ فِيمَا بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ نَحْوًا مِنْ سُجُودِهِ وَكَانَ يَقُولُ: « رَبِّ اغْفِرْ لِيْ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ».**[٢]

ژباړه: له حذیفه رضي الله عنه نه روایت دی چې هغه نبي کریم ﷺ لیدلی و چې لمونځ یې کو او د دواړو سجدو ترمنځ به د خپلې سجدې په اندازه کېناسته او ویل یې: ای الله، ما ته ښښنه وکړې.

**فایده:** په دې حدیث کې مونږ بله دعا یاده کړه چې دا هم د دوو سجدو په منځ کې ویل کېږي او بله دا خبره چې زر به دوهمې سجدې ته هم نه ځو باید دومره وخت تېر کړو څومره چې مو سجده کې تېر کړی وي (چې اطمنان حاصل شي).

(١) سنن أبي داود – (١ / ٣١٦)
(٢) سنن أبي داود – (١ / ٣٢٥)

## ۞ دوهم رکعت ته د پاڅیدو په وخت کې لږ کېناستل او بیا پاڅېدل

٦٠. **عَنْ مَالِك بْنِ الْحُوَيْرِث رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: «أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ ﷺ يُصَلِّى، فَإِذَا كَانَ فِيْ وِتْرٍ مِنْ صَلاَتِهِ لَمْ يَنْهَضْ حَتَّى يَسْتَوِيَ قَاعِدًا».**[١]

ژباړه: د مالک ابن حویرث رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې هغه نبي کریم ﷺ لیدلی دی چې لمونځ یې کو، کله چې به یې تاق رکعت وکړ تر هغه به نه پاڅېده چې برابر به کېناستلی نه و (بیا به دوهم یا څلورم رکعت ته پاڅېده).

**فایده:** په دې حدیث کې مونږ ته راوښودل شول چې کله اول رکعت وکړو نو دوهم رکعت ته به سیده نه پاڅېږو تر دې چې صحیح کېنو څرنګه چې د تشهد لپاره کېنو او بیا پاڅېږو دا طریقه د رسول الله ﷺ وه.

٦١. **وَعَنْهُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: «أَلَا أُحَدِّثُكُمْ عَنْ صَلَاةِ النَّبِيِّ ﷺ فِي غَيْرِ وَقْتِ الصَّلَاةِ فَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنْ السَّجْدَةِ الثَّانِيَةِ فِي أَوَّلِ الرَّكْعَةِ اسْتَوَى قَاعِدًا ثُمَّ قَامَ فَاعْتَمَدَ عَلَى الْأَرْضِ».**[٢]

ژباړه: مالک ابن حویرث رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي: ایا زه نه بیانوم تاسو د رسول الله ﷺ په داسې حالت کې چې د لمونځ وخت هم نه و، نو کله چې یې خپل سر د اول رکعت له دوهمې سجدې څخه راپورته کړ نو سم کېناسته او بیا پاڅېده او په ځمکه ودرېده.

---

(١) صحيح البخاري - (١ / ٢٨٣)
(٢) رواه البخاري و النسائي واللفظ له - بأحكام الألباني - (٢ / ٢٣٤)وقال: صحيح

**فایده**: په دې حدیث کې هم مونږ یاد کړل چې کله دوهم یا څلورم رکعت ته پاځیږو نو اول به ښه صحیح کېنو بیا به پاځیږو دا د رسول الله ﷺ طریقه وه.

## په مذکوره طریقه ټول لمونځ کول:

**٦٢. عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّهُ قَالَ: «إِنَّ رَسُولُ اللَّه ﷺ عَلَّمَ الصَّلَاةَ لِلَّذِيْ أَسَاءَ صَلَاتَهُ فَقَالَ: «ثُمَّ افْعَلْ ذَلِكَ فِيْ صَلَاتِكَ كُلِّهَا»**.[١]

ژباړه: له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ هغه سړي ته لمونځ وښود چې لمونځ ورته سم نه و یاد، نو ورته وېویل دا طریقه دې په خپل ټول لمونځ کې کوه.

**فایده**: د دې حدیث برخې مخکې ذکر شوي چې په هغې کې پیغمبر ﷺ هغه سړي ته د لمونځ طریقه وښودله څوک چې مسجد ته راغی او لمونځ یې وکړ او بیا راغی په پیغمبر ﷺ یې سلام واچو نو پیغمبر ﷺ ورته وویل واپس شه او بیا لمونځ وکړه ځکه تا لمونځ ونه کړ درې کرتې یې پرې لمونځ وکړ بیا یې وویل چې د الله پیغمبره له دې نه بغیر ما ته ښه لمونځ نه دی یاد.

بیا پیغمبر ﷺ دغه طریقه د لمانځه ورروښودله او ورته یې وویل چې په دې طریقې باندې خپل لمونځ کوه، نو باید مونږ هم په دغه طریقه خپل لمونځ وکړو.

(١) الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم - (٣ / ٨٦)

## پـه دوهم رکعت کې د(استفتاح دعا) نه ويل:

٦٣. وَعَنْهُ ﷺ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ إِذَا نَهَضَ مِنَ الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ اسْتَفْتَحَ الْقِرَاءَةَ بِـ (الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ) وَلَمْ يَسْكُتْ».(١)

ژباړه: او له ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به کله هم دوهم رکعت ته پورته شو نو په (الحمد لله رب العالمين ) باندې به يې قراءت شروع کړ او چوپ به نه ودرېده (يعني کومه دعا به يې نه ويله لکه د تکبيرتحريمه نه ورسته چې به چوپ کېده او دعابه يې ويله).

**فايده:**ـ دا حديث مونږ ته راښايي چې کله دوهم رکعت ته پاڅيږو نو د (الحمدلله رب العالمين) نه به شروع کوو.

## د دوو سجدو په منځ کې د کېناستلو طريقه:

٦٤. عَنْ أَبِيْ حُمَيْدٍ ﷺ أَنَّهُ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِذَا جَلَسَ فِيْ السِّجْدَتَيْنِ جَلَسَ عَلَى رِجْلِهِ الْيُسْرَى وَنَصَبَ الْيُمْنَى».(٢)

ژباړه: د ابو حميد ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به کله د دواړو سجدو په منځ کې کېناستو نو په چپه خپه به کېناسته او ښی خپه به يې ودروله.

**فايده:** په دې حديث کې مونږ د دوو سجدو په منځ کې د کېناستلو

(١) الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم - (٣ / ٢٢٧)
(٢) صحيح البخاري - (١ / ٢٨٤)

طریقه یاده کړه هغه دا چې په چپه خپه باندې به کېنو او ښي خپه به ودروو.

## نهم رکن: د اخرني تشهد لپاره کېناستل

په مسواکې ګوتې سره اشاره کول

**٦٥. عَنْ عَبْدِاللَّه بْنِ الزُّبَيْرِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّه ﷺ إِذَا قَعَدَ يَدْعُو وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى فَخِذِهِ الْيُمْنَى، وَيَدَهُ الْيُسْرَى عَلَى فَخِذِهِ الْيُسْرَى، وَأَشَارَ بِإِصْبَعِهِ السَّبَّابَةِ، وَوَضَعَ إِبْهَامَهُ عَلَى إِصْبَعِهِ الْوُسْطَى وَيُلْقِمُ كَفَّهُ الْيُسْرَى رُكْبَتَهُ».**[١]

**ژباړه**: له عبدالله ابن زبیر رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به کله کېناسته نو دعا به یې غوښتله، په ښي ورون به یې ښي لاس کېښود او چپ لاس به یې په چپ ورون باندې کېښود او په خپلې مسواکۍ ګوته به یې اشاره کوله او غټه ګوته به یې په منځنۍ ګوته ایښې وه او زنګون به یې هم په ګڅ ورغوي نیولی و.

**فایده**: په دې حدیث کې مونږ ته راوښودل شول چې کله د تشهد لپاره کېنوو نو باید ښي لاس په ښي ورون باندې کېږدو او چپ لاس په چپ زنګون باندې، او په مسواکۍ ګوتې باندې اشاره وکړو او غټه ګوته په منځنۍ ګوتې باندې کېږدو، غلي نه باید له الله تعالی څخه دعاګانې وغواړوو.

---

(١) صحیح مسلم - (٢ / ٩٠)

٦٦. **وَفِيْ رِوَايَةِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنه: «ثَلاَ ثًا وَخَمْسِينَ وَأَشَارَ بِالسَّبَّابَةِ».**[١]

ژباړه: او د ابن عمر رضي الله عنه په روايت کې راغلي دي چې ګوتې به يې داسې وي لکه دري پنځوس او په مسواکۍ ګوته به يې اشاره کوله.

**فايده:** په دې حديث کې مونږ ته راوښودل شول چې د پيغمبر ﷺ ګوتې مبارکې به په داسې شکل کې وي لکه دري پنځوس چې ليکل کيږي.

## لسم رکن: تشهد ويل

د لسم رکن دليل:

٦٧. **عَنْ ابْنِ مَسْعُودٍ رضي الله عنه قَالَ: «كُنَّا نَقُولُ فِي الصَّلَاةِ قَبْلَ أَنْ يُفْرَضَ التَّشَهُّدُ السَّلَامُ عَلَى اللَّهِ السَّلَامُ عَلَى جِبْرِيلَ وَمِيكَائِيلَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: لَا تَقُولُوا هَكَذَا فَإِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ هُوَ السَّلَامُ وَلَكِنْ قُولُوا التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ».**[٢]

ژباړه: له عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی فرمايي چې د تشهد له فرض کيدو وړاندې به مونږ په لمونځ کې داسې ويل: په الله ، او جبري او ميکائيل عليهما السلام باندې دې سلامتياوي، نو رسول الله

(١) صحيح مسلم - (٢ / ٩٠)
(٢) البخاري ومسلم والنسائي واللفظ للنسائي - (١ / ٣٧٨)

ﷺ وويل: داسې مه وایې: ځکه الله ﷻ پخپله سلام ذات دی (بل ته سلامتیا ورکوي هغه سلامتیا ته اړتیا نه لري) بلکې وایئ: ټول د ژبې عبادتونه او بدني عبادتونه او مالي عبادتونه الله ﷻ لره دي، ای د الله ﷻ پیغمبره په تا دې سلامتیا وي او په تا دې د الله ﷻ رحمتونه او برکتونه وي، پر مونږ او د الله ﷻ پر هغه بندګانو دې سلامتیا وي چې نیکان او صالحان دي، زه د دې خبرې ګواهي کوم چې د بندګې مستحق نشته دي مګر یو الله ﷻ دی او ګواهي کوم د دې خبرې چې محمد ﷺ د الله تعالی بنده او استازی دی.

٦٨. **عَنْ عَبْدُاللَّهِ بْنُ مَسْعُود رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّه ﷺ: «إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ فَلْيَقُلْ: التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ».**[١]

ژباړه: له عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ ویلي دي: کله چې تاسو کې څوک لمونځ کوي نو ودې وایي: ټول د ژبې عبادتونه او بدني عبادتونه او مالي عبادتونه الله ﷻ لره دي، ای د الله ﷻ پیغمبره په تا دې سلامتیا وي او په تا دې د الله ﷻ رحمتونه او برکتونه وي، پر مونږ او د الله ﷻ پر هغه بندګانو دې سلامتیا وي چې نیکان او صالحان دي فایده: په دې حدیث کې مونږته دا راوښودل شول چې کله لمونځ کوو او دتشهد لپاره کېنونوباید دا دعا ووایو.

(١) صحیح البخاري - (١ / ٢٨٦) وصحیح مسلم - (٢ / ١٣)

## دوهم رکعت ته د تشهد څخه وروسته پاڅېدل:

٦٩. وَعَنْهُ ﷺ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ: «إِنْ كَانَ فِي وَسَطِ الصَّلَاةِ نَهَضَ حِينَ يَفْرُغُ مِنْ تَشَهُّدِهِ».(١)

ژباړه: او له عبدالله ابن مسعود ﷺ نه روایت دی چې رسول الله ﷺ چې به کله د لمونځ په منځ کې (دوه رکعته چې به يې وکړه) نو بیا به دریم رکعت ته هله پاڅېده کله چې به د اول تشهد څخه فارغ شو.

**فايده:** په دې حدیث کې مونږ ته راوښودل شول چې دریم رکعت ته به هله پاڅیږو کله چې د (التحيات لله) نه واخله تر د تشهد پورې ووایو.

## دریم د رکعت ته دپاڅیدوپه وخت کې لاسونه وچتول

٧٠. عَنْ ابْنِ عُمَرَ ﷺ أَنَّهُ إِذَا قَامَ مِنْ الرَّكْعَتَيْنِ رَفَعَ يَدَيْهِ وَرَفَعَ ذَلِكَ ابْنُ عُمَرَ إِلَى نَبِيِّ اللَّهِ ﷺ».(٢)

ژباړه: له عبدالله ابن عمر ﷺ نه روایت دی چې له دوو رکعتونو څخه کله وپاڅید (دریم رکعت ته) نو اوچتول به يې دواړه لاسونه، او د دې کار (رفع اليدين) نسبت يې نبي کريم ﷺ ته وکړ.

**فايده:** په دې حدیث کې مونږ ته د لاسونو د اوچتولو یو بل ځای

(١) مسند أحمد - (٧ / ٣٩٢)
(٢) صحيح البخاري - (١ / ٢٥٨)

راوښودل شو چې د دريم ركعت ته پاڅيدلو پرمهال دي نو كله چې مونږ دريم ركعت ته پاڅيږو بايد (رفع اليدين) وكړو، دا د رسول الله ﷺ طريقه وه نو مونږ له پكار دي چې هغسې لمونځ وكړو څرنګه چې رسول الله ﷺ كړى وي.

## د ورستني تشهد د كېناستلو مسنونه طريقه:

**٧١. عَنْ أَبِيْ حُمَيْدِ السَّاعِدِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ إِذَا جَلَسَ فِي الرَّكْعَةِ الْآخِرَةِ قَدَّمَ رِجْلَهُ الْيُسْرَى وَنَصَبَ الْأُخْرَى وَقَعَدَ عَلَى مَقْعَدَتِه».**[1]

ژباړه: له ابوحميد رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله ﷺ به كله په اخرني ركعت كې كېناست (اخرني تشهد ته) نو چپه خپه به يې مخكې كړه او بله خپه به يې اودروله او په مقعد به كېناسته.

**فايده:** په دې حديث كې مونږ ته راوښودل شول چې كله د اخرني تشهد لپاره كېنو نو بايد چپه خپه به مخكې كړو او په ځمكه باندې به خپل كناټي كېږدو (يعني په خپه به نه كېنو).

## يوولسم ركن: درود ويل په اخرني تشهد كې

د يوولسم ركن دليل:

**٧٢. عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: «فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ كَيْفَ الصَّلَاةُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ؟ قَالَ: قُولُوا اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِ**

(١) صحيح البخاري - (١ / ٢٨٤)

**مُحَمَّد كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّد، وَعَلَى آلِ مُحَمَّد كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ».**(١)

ژباړه: له کعب ابن عجره ﷺ نه روایت دی چې مونږ وویل ای د الله پیغمبره! پر تاسو او کورنۍ مو درود په څه ډول دي؟ نو رسول الله ﷺ وویل داسې وایئ: ای الله ! په محمد ﷺ او په کورنۍ د محمد ﷺ داسې رحمتونه راولېږه څرنګه چې دې په ابراهیم ﷺ او د هغه په کورنۍ باندې رحمتونه نازل کړي وو، یقینا چې ته د کمال په ښایسته صفتونو ستایل شوی یې او ته لویی او عزت خاوند یې، ای الله ! په محمد ﷺ او په کورنۍ د محمد ﷺ داسې برکتونه راولېږه لکه په ابراهیم ﷺ او په کورنۍ د ابراهیم ﷺ چې دې ښکه رالویږلي و، یقینا چې ته د کمال په ښایسته صفتونو ستایل شوی یې او ته لویی او عزت خاوند یې.

**فایده:** په دې حدیث کې مونږ ته درود شریف راوښودل شو په دې الفاظوسره به درود شریف وایو.

## له درودوځخه ورسته دعاګاني:

٧٣. **عَنْ عَبْدُاللَّهِ بْنُ مَسْعُود ﷺ قَالَ قَالَ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ: «ثُمَّ يَتَخَيَّرْ مِنَ الدُّعَاءِ أَعْجَبَهُ إِلَيْهِ فَيَدْعُوهُ».**(٢)

(١) صحيح البخاري - (٣ / ١٢٣٣)
(٢) صحيح البخاري - (١ / ٢٨٧)

ژباړه: له عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: بیا دي له دعاګانو څخه هغه خوښې کړي چې د لمونځ کونکی خوښې وي او ودې غواړي.

**فایده**: په دې حدیث کې مونږ ته راوښودل شول چې د درودو څخه وروسته به دعاغوښتلی شي د چا چې کوم شرعي ضرورت وي نو په دغې وخت کې یې د الله ﷻ څخه غوښتلی شي او څه دعاګانې به په راروانو احادیثو کې ذکر شي.

**۷۴. عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ كَانَ يَدْعُو فِى الصَّلاَةِ: «اللَّهُمَّ إِنِّى أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْمَأْثَمِ وَالْمَغْرَمِ».**(١)

ژباړه: له بي بي عایشې رضي الله عنها نه روایت دی چې یقینا رسول الله ﷺ په لمونځ کې دا دعا کوله: ای الله ﷻ یقینا زه چې پناه نیسم په تا پورې د عذاب د قبر نه، او پناه نیسم په تاپورې د فتنې (امتحان) دجال څخه، او پناه نیسم په تا پورې د ګناه څخه او د قرض څخه (چې قرضداری نه شم).

**فایده**: په دې حدیث کې پیغمبر ﷺ مونږ ته دعا راوښودله چې د درود څخه وروسته ویلی کیږي نو مونږ له پکار دي چې دا دعاګانې زده کړو او په خپلو لمونځونو کې یې ووایو چې الله ﷻ مو ددغې فتنو او امتحانونو څخه بچ کړي.

(١) الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم - (٤ / ٥٧)

**٧٥. عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ رضي الله عنه أَنَّهُ قَالَ لِرَسُولِ اللَّهِ ﷺ عَلِّمْنِيْ دُعَاءً أَدْعُو بِهِ فِيْ صَلَاتِيْ. قَالَ: قُلْ: اللَّهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِيْ ظُلْماً كَثِيراً. وَلا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ أَنْتَ. فَاغْفِرْ لِي مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ. وَارْحَمْنِي، إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ».**(١)

ژباړه: له ابوبكر صديق رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ ته يې وويل: ما ته داسې دعا وښايه چې زه يې په لمونځ کې دعا وغواړم نو پيغمبر ﷺ ورته وويل داسې ووايه: ای الله , يقينا ما له ځان سره ډېر ظلم کړی دی او نه ښښي څوک ګناهونه مګر ته يې ښښې، له خپل طرف نه راته ټوله ښښنه وکړه او رحم راباندې وکړه په يقين سره چې ته ښښونکی او د رحم والا يې.

**فايده:** په دْ حديث کې مونږ ته بله دعا راوښودل شوه چې له درودو څخه وروسته ويل کيږي.

**٧٦. عَنْ عَلِيٍّ رضي الله عنه عَنْ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ: «أَنَّهُ كَانَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ «.. يَكُونُ مِنْ آخِرِ مَا يَقُولُ بَيْنَ التَّشَهُّدِ وَالتَّسْلِيمِ « اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِى مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ وَمَا أَسْرَفْتُ وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّى أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ».**(٢)

ژباړه: له علي رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به کله لمونځ ته ودريد نو.. اخرني ويل به يې د تشهد او سلام منځ کې دا و: ای

(١) صحيح البخاري - (١ / ٢٨٦)
(٢) صحيح مسلم - (٢ / ١٨٥)

الله ¸ ما ته ښښنه وکړه زما د هغې ګناهونو چې ما مخکې کړي دي او د هغې ګناهونو چې زه يې وروسته کوم او د هغې ګناهونو چې ما پټ کړي دي او د هغې ګناهونو چې ما ښکاره کړي دي او د هغه څه چې په هغې کې ما له حد څخه تېرى کړى وي او د هغې ګناهونو چې ته پرې له ما څخه ډېر ښه پوهه يې ته اول يې (له تا څخه مخکې څه نه و) او ته اخري يې (ستا نه وروسته به څوک نه وي) او نشته د بندګۍ مستحق مګر ته يې.

**فايده:** په دې حديث کې مونږ ته بله دعا راوښودل شوه چې دا دعابه پيغمبر ﷺ په هر لمونځ کې ويله نو مونږ او تاسو ته درس دى چې مونږ يې هم په خپلو لمونځونو کې ووايو ځکه زمونږ څخه داسې ګناهونه ډېر کېږي.

## دوولسم رکن: د سلام اړول:

د دولسم رکن دليل:

۷۷. **عَنْ عَلِيّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ ﷺ: «مِفْتَاحُ الصَّلَاةِ الطُّهُورُ وَتَحْرِيمُهَا التَّكْبِيرُ وَتَحْلِيلُهَا التَّسْلِيمُ».**[۱]

ژباړه: له علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى چې نبي ﷺ ويلي دي: د لمونځ کونجي پاکوالى دى، او تحريم (له هر شي څخه بنديدل) يې تکبير دى، اوتحليل (هر شي ورته رواکېدل) يې سلام دى.

(۱) سنن الترمذي - (۱ / ۸)

**فايده:** په دې حديث کې مونږ ياد کړل چې کله تکبير تحريمه وشي نو په لمونځ ګذار باندې بغير د لمونځ ځخه ټول هغه شيان چې ورته روا وي حراميږي، او چې کله سلام وګرځوي نو ورته روا شيان حلال شي

د سلام د اړولو طريقه او د (السلام عليکم الفاظ) ويل:

۷۸. **عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ: «أَنَّهُ كَانَ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ يَسَارِهِ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ، السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ».**[1]

ژباړه: له عبدالله رضي الله عنه ځخه روايت دی چې نبي کريم ﷺ به سلام ښي طرف ته اوچپ طرف ته ګرځو (يعني په ويلو د) **السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ، السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ** سره.

پر تاسو دې سلامتيا او د الله رحمتونه وي.

**فايده:** په دې حديث کې مونږ ته راوښودل شول چې کله سلام اړوو نو اول ښي طرف ته مخ ګرځول په ويلو د (**السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ**) سره او بياچپ طرف ته همدارنګه.

۷۹. **عَنْ وَائِلٍ عَنْ أَبِيهِ رضي الله عنه قَالَ: صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ فَكَانَ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِينِهِ: «السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ، وَ عَنْ شِمَالِهِ، السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ».**[2]

---

(۱) سنن الترمذي – (۲ / ۸۹)
(۲) سنن أبي داود – (۱ / ۳۷۹)

ژباړه: له وائل ﵁ څخه روایت دی، له خپل پلار څخه روایت کوي چې هغه ویلي دي ما د نبي کریم ﷺ سره لمونځ وکړ نو ښي طرف ته سې په دې کلماتو وګرځو (**السَّلاَمُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ**) او چپ (ګڅ) طرف ته يې هم سلام په دې کلماتو وګرځو (**السَّلاَمُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ**).

**فایده**: په دې حدیث کې هم مونږ ته د سلام طریقه او الفاظ راوښودل شول باید په دې طریقې سره سلام واړول شي.

### د سلام الفاظ لنډ ویل:

۸۰. **عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﵁ قَالَ: «حَذْفُ السَّلاَمِ سُنَّةٌ».**(۱)

ژباړه: ابوهریره ﵁ وايي چې د سلام الفاظ لنډول سنت دي (مدونه یې نه کول).

دیارلسم رکن: دغه ټول ارکان ښه په اطمنان سره کول

دلیل یې مخکې تېر شو چې «حتي تطمئن..».

څوارلسم رکن: دغه ټول ارکان په ترتیب سره کول

د څوارلسم رکن دلیل:

۸۱. **عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﵁ أَنَّهُ قَالَ: إِنَّ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ عَلَّمَ الصَّلاَةَ لِلَّذِيْ أَسَاءَ صَلاَتَهُ فَقَالَ: «ثُمَّ افْعَلْ ذَلِكَ فِيْ صَلاَتِكَ كُلِّهَا».**(۲)

(۱) سنن الترمذي - (۲ / ۹۳)
(۲) الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم - (۳ / ۸٦)

د دې حديث ترجمه مخکې په (٥٥) نمبر حديث کې تېره شوي ده

او رسول الله ﷺ ويلي دي: «**صَلُّوْا كَمَا رَأَيْتُمُوْنِيْ أُصَلِّيْ**».

د دي حديث ترجمه په (٥) نمبرحديث کې شوې ده.

هم دارنګه د ابوهريره رضي الله عنه په حديث کې هر رکن په ترتيب سره ذکر شو په کلمې د « ثم » سره.

## د سلام څخه ورسته دعاګاني:

٨٢. **عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنه قَالَ: «كُنْتُ أَعْرِفُ انْقِضَاءَ صَلَاةِ النَّبِيِّ ﷺ بِالتَّكْبِيرِ»**.(١)

ژباړه: له عبدالله ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دی چې ما به د رسول الله ﷺ **د لمونځ ختمېدل** (الله اکبر) په ويلو سره پېژندل.

**فايده**: په دې حديث کې مونږ ته راوښودل شول چې کله سلام واړوو نو بايد اول (الله اکبر) په اوچت اواز سره ووايو لکه د عبدالله بن عباس رضي الله عنه وايي چې مونږ به د رسول الله ﷺ د لمونځ پوره والی د (الله اکبر) په ويلو سره پيژه.

٨٣. **عَنْ ثَوْبَانَ رضي الله عنه قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ اسْتَغْفَرَ ثَلَاثًا وَقَالَ اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ ذَا الْجَلَالِ وَالإِكْرَامِ ». قَالَ الْأَوْزَاعِيُّ يَقُولُ «أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ»**.(٢)

---

(١) صحيح البخاري - (١ / ٢٨٨)

(٢) صحيح مسلم - (٢ / ٩٤)

ژباړه: له ثوبان ﷛ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به ښه درې کرتې وغوښته او بیا به یې وویل: ای الله ﷻ ته د سلامتیا والا یې او ستا له طرفه سلامتیا ده ته د برکت والا یې ای د لویې او د عزت خاونده.

اواوزاعي وايي چې ويل به يې: اى الله ﷻ مونږ له تا څخه ښنه غواړو (د خپلو ګناهونو).

**فايده**: په دې حديث کې مونږ ته راوښودل شول چې کله سلام واړوو او (الله اکبر) ووايو نو بايد وروسته درې کرتې (استغفرالله) ووايو.

٨٤. **عَنْ الْمُغيرَةَ ﷛ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّه ﷺ يَقُولُ: «إِذَا قَضَى الصَّلاَةَ « لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ اللَّهُمَّ لاَ مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ وَلاَ مُعْطِىَ لِمَا مَنَعْتَ وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ».**[١]

ژباړه: له مغيره ﷛ څخه روايت دى چې ما له رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي ويل يې کله چې به يې لمونځ پوره کړه: نشته دی د بندګۍ لايق په حقه سره مګر الله ﷻ دې يواځې او نشته دی د دې الله ﷻ سره څوک شريک او د دې الله تعالى لپاره بادشاهي او اختيار دى او د دې الله ﷻ لره خايسته او د کمال نه ډک صفتونه دي او د االله ﷻ په هر هغه څه باندې د قدرت والا دى چې وې غواړي اى

(١) صحيح مسلم - (٢ / ٩٦)

الله ﷻ د هغه څه منع کونکی نشته چې ته يې چا ته ورکوي، او نشته دی ورکونکی د هغه څه چې ته يې منع کوي له چا څخه، او له تا څخه هيڅ مالدار ته د هغه مالداري هيڅ ګټه نه رسوي.

**فايده**: په دې حديث کې مونږ ته يوه بله دعا هم راوښودل شوه چې د لمونځ څخه وروسته ويل کيږي او له دې حديث څخه دا معلوم شول چې مالدار سړی دې په خپل مال نه دوکه کيږي چې دا به ما يا د الله ﷻ سره د مرتبې خاوند کړي او يا به مې له عذابه خلاص کړي.

٨٥. **عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ أَخَذَ بِيَدِهِ وَقَالَ: «يَا مُعَاذُ إِنِّي أُحِبُّكَ، فَقَالَ أُوصِيكَ يَا مُعَاذُ لاَ تَدَعَنَّ فِيْ دُبُرِ كُلِّ صَلاَةٍ اللَّهُمَّ أَعِنِّى عَلَى ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ».**(١)

ژباړه: د معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دی چې يقينا رسول الله ﷺ له لاس څخه ونيو او ورته يې وويل: ای معاذ! يقينا زه له تاسره مينه لرم او بيا يې ورته وويل: زه درته وصيت چې ته له هر لمونځ نه وروسته دا دعا بيښبې مه پريږده: ای الله ﷻ ته ما سره مرسته وکړې ستا په يادولو او ستا په شکر ويستلو کې او ستا په خايسته بندګي کولو کې.

**فايده**: په دې حديث کې هم مونږ ته بله دعا وښودل شوه چې دا هم له لمونځ څخه ورسته ويل کيږي او په دې سره رسول الله ﷺ معاذ

(١) سنن أبي داود - (١ / ٥٦١)

ﷺ ته وصيت هم کړی دی نو دا ټول امت ته وصيت هم دی.

باید مونږ هم له خپل لمونځ څخه ورسته دا دعا پري نه ږدو.

۸۶. **عَنْ أَبی هُرَيْرَةَ ؓ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ: «مَنْ سَبَّحَ اللَّهَ فِيْ دُبُرِ كُلِّ صَلاَةٍ ثَلاَثًا وَثلاَثينَ وَحَمِدَ اللَّهَ ثَلاَثًا وَثلاَثينَ وَكَبَّرَ اللَّهَ ثلاَثا وَثلاَثينَ فَتلْكَ تسْعَةٌ وَتسْعُونَ وَقَالَ تَمَامَ الْمِائَة لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ غُفرَتْ خَطَايَاهُ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ».**[1]

ژباړه: ابوهريره ؓ له رسول الله ﷺ روايت کوي چې: چا له هر لمونځ نه وروسته درې ديرشت ځله (سبحان الله)، درې ديرشت کرتې (الحمدلله) او (الله اکبر) يې هم درې ديرشت کرته وويل ټول نهه نوي کرته شول او د سلو د پوره کولو لپاره يې (لا اله..) وويل، نو ټول ګناهونه به ورته معاف کړی شي که څه هم ګناهونه يې د درياب د زګونو په څېر وي.

**فايده:** په دې حديث کې مونږ ته د لمانځه څخه وروسته اذکار راوښودل شول هر هغه چا چې په دې باندې عمل وکړه نو الله ﷻ به ورته ټول ګناهونه معاف کړي اګر که د درياب د زګ په اندازه هم وي.

۸۷. **وعَنْهُ ؓ قَالَ: قَالَ النَّبيُّ ﷺ: «كَلِمَتَانِ حَبِيبَتَانِ إِلَى اَلرَّحْمَنِ، خَفِيفَتَانِ عَلَى اَللِّسَانِ، ثَقِيلَتَانِ فِي اَلْمِيزَانِ، سُبْحَانَ اَللَّهِ**

(۱) صحيح مسلم - (۲ / ۹۸)

وَبِحَمْدِهِ، سُبْحَانَ اَللَّهِ اَلْعَظِيمِ».[۱]


ژباړه: له ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چې نبي کريم ﷺ ويلي دي: دوه کلمې دي چې رحمن ذات ته ډېرې محبوبې دي او په ژبه ډېرې اسانې دي او د اعمالو په تله کې ډيري درنې دي چې هغه دا دي: (سبحان الله..) پاکي ده الله ، لره له هر قسمه عيب او نقصان څخه او هغه لره له کمال څخه ډک صفتونه دي، او پاکي ده الله ، لره له هر قسمه عيب او نقصان څخه چې لوی دی په ذات او صفاتو سره له هر شي څخه.

**فایده**: په دې حديث کې مونږ ته تېزي راکړی شوه چې الله ، لره ډيره پاکي او ثنا بيان کړو او په دغې کلمو سره خپله د اعمالو تله درنه کړو چې ويل يې اسان او په تله ترازو کې درانه او رحمان ذات ته ډېرې محبوبې دي.

وصلي الله تعالی علی خير خلقه محمد وعلی اله و صحابته

(۱) صحيح البخاري - (٦ / ٢٧٤٩)





IslamHouse.com

www.IslamHouse.com IslamHouse.com IslamHouseEn IslamHouseEn

For more details visit
www.GuideToIslam.com

GUIDE TO ISLAM

contact us :Books@guidetoislam.com

Guidetolslam.org Guidetoislam1 Guidetoislam www.Guidetoislam.com

المكتب التعاوني للدعوة وتوعية الجاليات بالربوة


هاتف: ٤٤٥٤٩٠٠ ١١ ٩٦٦+ فاكس: ٤٩٧٠١٢٦ ١١ ٩٦٦+ ص ب: ٢٩٤٦٥ الرياض: ١١٤٥٧

ISLAMIC PROPAGATION OFFICE IN RABWAH

P.O.BOX 29465 RIYADH 11457 TEL: +966 11 4454900 FAX: +966 11 4970126

# د پیغمبر ﷺ د لمانځه طریقه

دکتاب په اړه: له شرک څخه پاک اسلامي دین په خورا قوي بنیادونو او پیاوړي بنسټونو ایښودل شوی دی چې له دغې بنیادونو څخه یو هم لمونځ دی، لمونځ کې شمېر فضایل لري، گرد نېک عملونو پر لمونځ بالدې څرخېږي، که د قیامت په ورځ لمونځ دروست وخېژي ټول نېک عملونه به دروست وي، او که دروست ونه خېژي نو انسان له زیان او تاوان سره مخ شوه. د لمونځ لوړې مرتبې او ستر شرف له کبله یې اسلامي شریعت ارکان او واجبات په ښه توگه بیان کړي دي، د هغه سنت طریقې او مستحبات یې لا ښه څرگند کړي دي، ټول احکام او تفاصیل یې ورله شرحه او فصل کړي دي، لیکوال په دې کتاب کې ټول د مذکوره صحیح او صریح حدیثونه شامله معنی برسېره د حدیث کټې او فایدې هم ذکر کړي دي، هر حدیث یې له مرکزي عنوان لاندې راوړی دی چې لوستوال ترې په ډېره اسانه گټه اخستل شي، الله رب کریم دې په دې کتاب سره گرد اسلامي امت ته عالم وي که جاهل، مشر وي که کشر، نارینه او که زنانه گټه ورسوي.




IslamHouse.com